# د لمانځه په قعدو کې

# د شهادت په ګوته اشاره

Ketabton.com



لیکوال :

عبدالرحیم فوزي (هروي)

ژباړن :

نعمت الله پټانزی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

## دخپل پلار شهیـداسدالله سپیڅلي روح اوګرانې مورته چې تل یې

## دعلم اوپوهې لورته هڅولی یم په ډیره مینه ډالۍ کوم .

## ژباړن

دچاپ ټول حقوق یې له ژباړن سره خوندي دي

کال : ۱۳۹۵ هـ ش

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مژده درچشم سنائی تیربادا چون سنا ن**

**گر زمانی زنده گی خواهد سنائی بی سنن**

**(سنائي غزنوي)**

دبشریت ستر لارښود نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) په یوه حدیث شریف کې داسې فرمایي :

« عن ابی هریرة رضی الله عنه قال : قال النبي صلی الله علیه وعلی آله واصحابه وسلم : ان جزء من سبعین جزء النبوة تاخیر السحور وتبکیر الافطار واشارة الرجل با صبعة فی الصلوة . »

قدوری دعبدالرزاق اوکامل ابن عدی مسند ،فتاوی العزیزي : ۴/۱

دحدیث شریف ژباړه :

« له ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) ویلي دي چې : دپشـلمي پـه وخـت کې دډوډۍ خوړلو وروسته والی (دسهار راختلوته نږدې) اوپه روژه ماتي کې بیړه ( دروژې ماتول ترلمرلویدنې وروسته دماښـام ترتحقق موندلو پورې) اودلمانځـه پـه قعدوکې دالله(جل جلاله) دوحدانیت لپاره دشهادت په ګوته اشاره کول دپیغمبرۍ داویایمې برخې څخه یوه برخه ده . »

**مه نازیږۍ په ښایست ددې دنیا**

**پاتې کېږي هم له شاه هم له ګدا**

**ابدي ژوند درنه غواړي نیک عمل**

**توښـه جوړه کړۍ دنیاکې دعقــبا**

**(پټانزی)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دمطالبولړلیک

**سرلیک** **مخکنه**

دژباړن سریزه......................................................6

دلیکوال خبرې ......................................................9

داستاذ ضیاء احمد« فاضلي» سریزه..............................10

دلمانځه په قعدوکې دشهادت دکلمې دتلفظ په وخت کې دشهادت په ګوتې سره داشارې دعمل...........12

هغه اصول اوقواعد چې دشهادت په ګوته سره داشارې کولو په وړاندې نیوکې دفع کوي.....................20

دحدیث په متن کې دګډوډۍ نشتون..............................20

په ظاهرالروایت کې دشهادت په ګوته داشارې دیادونې نشتون....................21

دوقاراو آرامۍ نشتون ...................................... 22

دشهادت په ګوته داشارې کولو په اړوند دشهیدمیرزا مظهر«جان جانان (رحمة الله علیه) » فقهې څیړنې.23

په زړه پورې پلټنه..............................................25

پیوستونه..........................................................26

ویل ،کول اونیت...................................................26

لمونځ هغه وخت دکمال درجې ته رسیږي چې دزړه حضورپه کې منځ ته راشي.................................27

په عبادتونو اوطاعتونوکې دزړه دحضور ارزښت اومرتبه..........................28

دقیامت په ورځ دبدن دهرغړي دکړو وړو شهادت اوګواهي.............................29

دالله (جل جلاله) دسپیڅلي ذات څخه په ظاهري اوباطني غړیو سره دشرک نفې کول .......................30

(c) ketabton.com: The Digital Library



تبصره (څرګندونه)........................................................................................................30

په فعل اوعمل سره دشکرایستل اوحمدویل غوره دي ،په قول او ویلوسره دشکرایستلواو حمد............31

حمد............................................................................................................................31

دطب دپخوانیوعلماوودڅېړنې پایله «دشهادت دګوتې اړیکه (نږدې والی) له زړه سره» .......................32

دلمانځه په قعدوکې دشهادت په ګوته سره داشارې دکولوپه اړه داحنافوفقهاوو کرامو(رحمة‌الله علیه).....34

دلمانځه په قعدوکې دشهادت په ګوته داشارې په اړه ضروري احکام اومسائل...................................37

دلمانځه په قعدوکې دشهادت په ګوته سره داشارې کولوپه اړونددڅلورګونو امامانو .............................39

دشهادت په ګوته سره داشارې دسنت والي دنفې کولو ځینې کمزوري دلائل ....................................41

ځینې کتابونه چې دشهادت په ګوته سره اشاره کول په کې تشریح اوتائېد شوي دي..........................43

دلیکوال لنډه پیژندنه.........................................................................................................44

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دژباړن سریزه

**الحمدلله ،الحمدلله الذي أرسل بالهدی ودین الحق لیظهره علی الدین کله ،والصلا ة والسلام علی سیدنا ومولانا محمد وعلی آله واصحابه أجمعین . امآ بعد :**

**درنولوستونکو:**

هرڅوک چې د لمانځه په قعدوکې دشهادت په ګوته سره داشارې کولوفضائل ،ګټې اوبرکتونه دلومړي ځل لپاره لولي کېدای شي ډېرحیران پاتې شي چې داډول حرکت په لمانځه کې دومره نیک اثرات له ځان سره لري دخلکو داحیرانتیا کېدای شي ددې عمل دحکمتونو او اسرارو په اړه دمعلوماتودنه لرلو له امله وي خو ؛ ددې عمل عمده اولوی حکمت دهغه په عملي کولوکې نغښتی دی چې دهغه په اړه بایدډېرې ځېرنې ترسره شي دالله (جل جلاله) یوالی اوعظمت په داسې وخت اوځای کې چې ژبه دهغه دیوالي په بیانولو سره لګیاوي اوزړه هم په هغه باندې تدبرولري اوپه دغه عمل باندې تأکېدوکړي ،سترګې اوفکرهم پرهغه باندې شاهداوګواه وي ، ترڅویوواقعي لمونځ کوونکی چې پرتول وجوداوهواسو یې خبروي دالله (جل جلاله) توحیداویوالی په دې سترعبادت کې ترسره اوښکاره کړي اویو ځرګند پیغام چې څوڅوځله په یوه شپه اوورځ کې تکراریږي له ځان سره واخلي اودژوندانه په ټولوبرخوکې ورته عمومیت ورکړي اویوازې دالله (جل جلاله) لپاره دعبادت په کولواودهرډول شرک دنفې کولوپه منظورخپل ځان دعزت اوخپلواکېت هسکې څوکې ته ورسوي .

دلمانځه په قعدوکې دالله (جل جلاله) د وحدانیت په منظور دشهادت په ګوته سره اشاره کول سنت دي ،اوداعمل داسلام سترپیغمبر حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) ترسره کړی دی اوپه دې اړه له اصحابو کرامو(رض) ، داهل سنت والجماعت څلورګونوامامانواونوروعلماوو کرامو(رح) څخه هیڅ اختلاف اومنعه نه ده روایت شوې بلکه داعمل دټولودتائید وړګرځېدلی دی . ددې لپاره چې ددې نیک اوباارزښته عمل دګټوڅخه برخمن شواوپه لمنځونوکې موددې عمل په ترسره کولوسره زړونه پوره حضوراوآرامي ومومي اوشیطاني وسوسې موله زړونوڅخه لیرې شي اوبالاخره داعبادت (لمونځ) مو دالله (جل جلاله) په لوی دربارکې قبول شي اوله بلې خوادرسول الله (صلی الله علیه وسلم) پیروي اودالله (جل جلاله ) رضایت ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مينه اومحبت مولاس ته راوړی وي ، لکه چې الله (جل جلاله) په خپل سپيڅلي کتاب قرآنکريم کې داسې فرمايلي دي : «قُلۡ إِن كُنتُمۡ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِي يُحۡبِبۡكُمُ ٱللَّهُ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ .»

دآل عمران سورت (۳۱) آيت .

ژباړه : « ورته ووايه که چېرې تاسوالله (جل جلاله) دوست ګڼئ نوزمامتابعت وکړئ الله (جل جلاله) به تاسودوست وګڼي اوستاسوګناوې بـه وبښي اوالله (جـل جلالـه) ډيربښـونکی اورحـم والادی . » چې پـه پورتنی آيت شريف کې درسول الله (صلی الله عليه وسلم) په پيروي اومتابعت کې دوې ښکاره ګټې بيان شوی دي : لومړی:- داچې دالله (جل جلاله) محبوبيت لاس ته راځي. دويم:- داچې ګناهونه ښښل کيږي اودالله (جل جلاله) هرمحبوب ته دامقام نه رسيږي اوداتباع معنی هم په عمل اوطريقه کې پيروي کول دي يعنې درسـول الله (ص) پـه قدمونوبانـدې قدمونـه کېږدئ اودهغـه پـه لاښـوونوعمل وکړئ اودهغـه سـنتونه ژوندي کړئ ترڅودالله (جل جلاله) رحمت اوبښـنې وړوګرځئ لکه چې بل ځای الله (جل جلاله) په خپل کتاب قرآنکريم کې داسې فرمايلي دي :

«وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ. » دنورسورت (۵۶ ) آيت.

ژباړه : « اولمونځ اداءکړئ اوزکات ورکړئ اودپيغمبراطاعت وکړئ ترڅورحم درباندې وشي . »

اوهمدارنګه رسول الله (صلی الله عليه وسلم) په يوه حديث شريف کې داسې فرمايلي دي :

«عن بلال بن الحارث المزنی قال قال رسول الله (ص) من احياسنة من سنتی قداميتت بعدي فان له من الاجرمثل اجور من عمل بها من غيران ينقص من اجورهم شيا. » رواه ترمذی ،مشکوة ۳۰مخ .

ژباړه : « لـه حضرت بلال بـن الحارث المزني (رضی الله عنه) څخه روايت دي چې رسـول الله (صلی الله عليه وسلم) فرمايلي دي : څوک چې زماله سنتوڅخه يوسنت ژوندی کړي په داسې حال کې چې زماڅخه وروسته خلکوپريښی وي ،هغه لره دومره اجر دي لکه څوک چې په هغه باندې عمل کوي پرته له دې چې دهغه له اجراوثواب څخه کوم شی کم شي .»

په همدې منظورمې نوموړې رساله چې ښاغلي مولوي عبدالرحيم فوزي (هروي) په دري ژبـه سره ليکلې ده اولــه ډيرومهمــواومعتبروفقهې کتابونوڅخــه يــې اســتفاده کــړی ده اوپــه نومــوړې رســاله کــې يــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دجيدوعلماؤکرامو ،احنافواوځلوروامامانو(رحمـة الله علـيهم ) ځيرنـې چې پـه دي اړه يـې سـرته رسـولې دي دمعتبرومنابعوپه راوړلوسره بيان کړې دي.

دیادونې وړبولم چې په دې رساله کې دځينې عباراتو منابع اوسرچينې له ليکوال څخه پاتې شوې وې اوپه ځينـو برخـوکې يـې دچـاپ پرمهـال متني تيروتنې هـم دلوردې خومادډيرې ژورې مطـالعې اوځيړنـې پـه مرسته اوهمدارنګه د« ښاغلي استاذالعلماء شيخ الحديث والتفسير الحاج مولوي بسم الله ( متوکل ) دکابل دعربي دارالعلوم پخواني استاذ اودپټان خيلو ديني اوعلمي زده کړو دعالي مرکز مشر اواستاذ » په سالمو مشـورو اولارښـونو سـره دانيمګړتيـاوې پـوره کـړې ، لـه بلـې خـوا درسـالې ليکـوال لـه ځينـومعتبرو فقهـي کتابونوڅخه عربي متنونه رااخيستي ؤ اودهغه ژباړه يې په دري ژبه باندې نه وه کړې بلکه هغه يې په کلي توګه تشريح کړي ؤ ،خوماهغه په بشپړه توګه پښتوژبې ته راوژباړل اوپه دې نيک کارسره دالله (جل جلاله ) په مرسته اوکمک بريالی شوم .

همدارنګه له « ښاغلي استاذالعلماء شيخ الحديث والتفسير الحاج مولوي بسم الله ( متوکل ) دکابل دعربي دارالعلوم پخواني استاذ اودپټان خيلو ديني اوعلمي زده کړو دعالي مرکز مشر اواستاذ » څخه ډيره مننـدوى يم چې ددې رسالې په ژباړه کې يـې خپلې هڅې اوسالمې مشورې ونـه سپمولې ، نورې خپلې خبرې رانغاړم داتاسې اوداهم دلمانځه په قعدوکې دشهادت په ګوته اشاره .

**ربنا تقبل منا انک انت السميع العليم**

**ستاسې ددعاوو په هيله**

**نعمت الله پټانزی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دليکـوال خبرې

**الحمدلله الذى ابداع المخلوقات فى ستة ايام بمحض الارادة والصلوة والسلام على نبيه سيدنا محمد الذى ايده بالقول والاشارة وعلى آله واصحابه هم نجوم الاقتداء فى الشريعة بالارشادوالهداية وعلينا وعلى جميع المومنين شكرألله الذى وفقنا بعمل هذه الشهادة ولكل امرمن امورالشريعة للعاملين المخلصين تلذذات وسقاية ولكن للاشارة بالمسبحة فى الشهادة لذة خاصة باعلى المزاية كمااشارالنبى الى مزية من مزياته هى مدهرة الشيطان بشدة ومرارة وتحصيل بعملها حضورالقلب : وهى من سنن الصلوة باثرالرواية والدراية .**

**امآبعد :**

له هغه څېړنوڅخه وروسته چې ما دشهادت په ګوته سره داشارې په اړه دفقهاوو علماءکرامو(رحمة الله عليهم) په ليکل شويو آثارو اوکتابونو کې وکړې اودهغوی څېړنې چې په دې اړه يې کړې وې په ډېرغورسره مطالعه کړې ددې لپاره چې هرمومن شخص دلمانځه په قعدوکې دشهادت په ګوته سره اشاره کول په ټاکلي وخت اوځانګړي کېفيت سره ترسره کړي اوهغه دلمانځه له سنتونوڅخه وګڼي ،نودهمدې مقصد لپاره مې دمعتبرو ديني ،ثقه محققنو څېړنې چې دشهادت په ګوته سره داشارې دعمل دسنت والي دثبوت لپاره ديوې رسالې په بڼه راغونډاوتحريرکړل ترڅونوموړې قضيه په صراحت سره ثابته شي اوددې سنت عمل له ګټو ،فضائلواوحکمتونوڅخه يې مومنان برخمن شي . ددغه سنت عمل ګټې څه داسلامي فقهې او څـه دعقيـدتي مسـائلواودطب دعلـم لـه نظـره لـه ورايـه ښـکاريږي اودسـلفوعلماءکرامو(رحمة الله عليهم) په مختلفونظرياتوکې تائيد شوې دي لکه چې امام مالک (رحمة الله عليه) فرمايلي دي : دشهادت دګوتې عروق لـه زړه سره په ذاتي ډول يـوه ځانګړې اړيکه لـري په دغـه صـورت کې دلمانځـه پـه قعـدوکې دشهادت په ګوته اشاره کول دانسان (مومن بنده) دزړه دويښتيا اودهغه دحضوردموندلو سبب کيږي .

**ګرانو لوستونکو !!**

زه درسالوپه تدوين اوتهيه کولوکې ډېرکوښښ کوم چې هغه ټولوته داعتماد وړ وي په همدې اساس دجيدو علماء کرامو(رحمته الله عليهم) دليکنوعربي متنونه اوعبارات دهغه له منابعواوسرچينوسره په خپلوليکنوکې رانقل کوم اودهغـه مفهوم لـه نوموړو عباراتو لاندې ذکرکوم ترڅوپه عمومي توګه اوحتی دنويو زده کوونکو لپاره دګټې اخيستنې وړ وي اوسربيره پردې ټول لوستونکي له هغه څخه برخمن شي

**عبدالرحيم فوزي (هروي)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## داستاذ ضیاء احمد « فاضلي» سریزه

دلوی خدای (جـل جلالـه) سـتاینه اوشـکر اداء کـوم چې مـونږیې دایمـان اوتوحیدپـه ګانـه سـمبال کـړي یواوداسلام دسترپیغمبر خیرالانام(صلی الله علیه وسلم) امتیان (خیرالامم) یې ګرځولي یو ،اودبشریت په سترلارښـود اودپیدایښـت پـه ځلانـده سـتوري جنـاب نبي کـريم (صـلی الله عليـه وسـلم) ، دهغـه پـه کـورنۍ اوربـستینو ملګرو درود اوسـلام وایـم . څـوک چې پـه لمانځـه کې دشـهادت پـه ګوتـه داشـارې کولوفضـیلتونه اوبرکتونه دلومړي ځل لپاره لولي کیدای شي ډیرحیران پاتې شي چې په لمانځه کې داډول حرکت څومره نیک اثرات لـه ځانـه سره لري اوترڅـومره انـدازې پـورې دپرتمینـې شـرعې دپـاملرنې وړ ګرځیـدلی دی ،دغـه حیرانتیاددې نیک عمل دحکمتونو اواسرارو په اړه دمعلوماتو دنه لرلو له امله منځ ته راځي .

زماپه آندددې عمل یولوی حکمت دهغه په سرته رسولوکې په ډیرپام او دقت کې دی چې هغه ته بایدډیره پاملرنه وشي ،په عمل کې دالله عزوجل دیوالي بیانول په یوه سمه طریقه ،معین وخت اوځای کې چې ژبه دهغه په بیانولو لګیا وي اوزړه په هغه باندې تدبرولري ،عمل پرې تأکید وکړي ،سترګې اوفکرپه هغه باندې شاهد اوګواه و اوسي ،ترڅو یو پوه اوواقعي لمونځ کوونکی په خپل ټول فکر اووجود سره دلوی څښتن (جل جلاله) یوالی اووحدانیت بیان اوترسره کړي اوپه دې واضح اورسا پیغام سره هره شپه او ورځ دالله عزوجـل دوحـدانیت لپـاره دژونـدانـه پـه ټولوبرخـوکې دخالصـانه بنده کی، پـه توګه دالله (جـل جلالـه) سـره دهرډول شرک دنفي کولو په خاطر دعزت ،سرلوړۍ اوخپلواکۍ هسکې څوکې ته ځان ورسوي اوپه ژبه سره دغه محمدي ناره بدرګه کړي «... ان صلاتی ونسکی ومحیایی ومماتی لله رب العلمین ،لا شریک له ...» .

هو! رښتیا که چیرې پوره غور اوپام وکړو چې دالله (جل جلاله) دتوحید اویوالي دبیانولولپاره په لمانځه کې هیڅ کوم عمل داشارې په نسبت ویښوونکی نه دی ، دایوځانګړی استثنائي خاصیت دی چې داشارې کول له هغه څخه برخمن دي . لـه بلې خـوا داسـلام پـه سـپیڅلي دیـن کې ترټولـو شـریف ترینـه مسئله دتوحیـد ښـودل شـویده نو ؛پـه دې اسـاس دغـه عمـل دومـره ارزښـتناک دی چې دفضـیلت اوارزښـت پریکـړه یـې تاسولوستونکوته پرېږدم .

په دې ټولوسربیره دتأسف اوبدمرغۍ ځای دی چې زمونږپه ټولنه کې تراوسه پورې هم دغه آسانه او وړیا توحیدي عمـل دپـام وړ نـه دی ګرځیـدلی اوګڼ شـمیرخلک دهغې پـه اړه زړه نـازړه ،بې پروا اوبې برخې پاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شـوي دي . همـدا دزړه سـواندو علمـاء کرامـو رسـالت دی چې دپيغمبر(صـلی الله عليـه وسـلم) دسـنتوواقعي څيره دين پرورو خلکوته ښايي اودوی ددينې ارزښتونو ژوندي کوونکي بلل کيدای شي .

نو ؛په دې برخه کې دقدرمن ورور ښاغلي مولوي عبدالرحيم فوزي (هروي) هاند اوهڅې دستايلو وړ دي چې داډول کره اومعتبره رساله يې تدوين کړيده ،لوی خدای (جل جلاله) د ددې نيک اقدام بدله ورکړي اوخدای (جل جلاله) دنور توفيق هم ورپه برخه کړي چې دعلم اوپوهې دنورو ټولو خاوندانو سره داسلامي روزنې ، بيدارۍ او اصلاح لپاره نور کوټلي ګامونه هم اوچت کړي .

**په درناوي**

**ضياء احمد« فاضلي»**

**دهرات دلرغوني جامع جومات واعظ ، د احياء العلوم دمدرسې مسؤول**

**اودهرات پوهنتون دشرعياتو اواسلامي علومو دپوهنځۍ استاذ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دلمانځه په قعدوکې دشهادت دکلمې دتلفظ په وخت کې دشهادت په ګوتې سره داشارې دعمل داثبات په اړه دفقهې دجیدوعلماؤو کراموڅیړنې**

ځینوعلماوو دشهادت په ګوته سره اشاره کول مکروه ګڼلي دي لکه: (صاحب منية المفتی) ، ځینوحرام بللي لکه چې په خلاصه کيداني کې روښانه شوي دي خوځينوبيامستحب ګڼلي دي لکه چې د رمزالحقايق په کتاب کې يې نقل شوی دی اوځينې علماوولېکلي دي چې داشارې دنه کولو اختيارلري لکه په عالم ګيري کې چې دخلاصې څخه نقل شوی دی. مګرداټول دحقيقت په سمه لاره نه دي تللي نوسمه اوصحيح خبره داده چې دشهادت په ګوته سره اشاره کول سنت دي اودا خبره په صحيحواحاديثوسره ثابته شوې ده لکه چې امام محمد(رحمة الله عليه) په خپل کتاب موطاء کې ليکلي دي چې دا زما او دامام ابوحنيفه (رحمـة الله عليـه) قـول دي چـې دشـهادت پـه ګوتـه اشـاره کـول سـنت دي اوپـه دې اړه لــه اصحابوکرامو ،سلفوعلماوو او څلوروامامانو(رحمة الله عليهم) څخه هيڅ مخالفت نه دي نقل شوی اوکه څوک دامکروه اوياحرام ګڼي ديوه سخت جرم مرتکب شوي دي.

سلطان العلماء ملاعلى قارى (رحمة الله عليه) د(تزيين العباده لتحسين الاشاره) په رساله کې دسمو رواياتو اودلايلو دراوړلوڅخه وروسته داسې ليکي :

«وهومذکورفی الصحاح وغيرهاماکادان يکون متواترأبل يصح ان يقال انه متواترالمعنى فکيف يجوزلمومن بالله ورسوله ان يعدل عن العمل وياتى التعليل فی معرض النص الجليل مع ان ذلک مدخول صدرمن العليل ...واختزر بالصحيح عما قيل لايشيرلانه خلاف الدرايت والرواية . »مجموعة الفتاوی ابوالحسنات محمدعبدالحی لکهنوی : ۶۲ مخ .

ژباړه : « اوهمدغه (دشهادت په ګوته اشاره کول) داحاديثوپه صحيحواونوروکتابونوکې ذکرشوې ده کېدای شي دمتواترحکم ته ورسيږي ،بلکه صحيح داده چې ووايو معنوي متواترده نودهغه کسانولپاره چې په الله (جل جلاله) اورسول الله ايمان لري څرنګه جواز ولري چې له هغه نه مخ اړوي چې وروسته همغه نص راځي کوم چې دهغه په اړه ويل شوي دي او دهغو خلکوخبره مردوده ده چې وايي : اشاره مه کوي ځکه چې داد درايت اوروايت يعنې دعقلي اونقلي دليل خلاف عمل دي . »

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوهمدارنګه السیدمحمد امین ابن عابدین(رحمـة الله علیـه) دردالمختار کتاب په اول ټوک ۳۴۲ مخ کې نوموړې موضوع په لاندې ډول تصریح کړیده :

«وفسرت الاشاره بهذه الکیفیة فی عامة الکتب کالبدایع وغیرهاکما ذکرت عباراتهم فی رسالتی سمیتها رفع الترددفی عقد الاصابع عندالتشهد فیعقد عندها ویرفع المسبحة عندالنفي ویضعها عندالاثبات وهذاما اعتمدالمتأ خرون لثبوته عن النبی(صلی الله علیه وسلم) بالاحادیث الصحیحة ولصحة نقله عن ائمتنا الثلاثه فلذا قال فی فتح : ان الاول بسط الاصابع بدون الاشارة خلاف الدرایة ولروایة ، واماماعلیه عامة الناس فی زماننا مع الاشاره من البسط بدون عقد فلم اراحدا قال به سوی الشارح تبعا للشرنبلالیه عن البرهـان للعلامـه ابـراهیم الطرابلیسـی صـاحب الاسـعاف مـن القـرن العاشـر واذاعـارض کلامـه کـلام جمهورالشارحین من المتقدمین والمتأخرین (رحمة الله علیهم) من الذکرالقولین فقط ،فالعمل علی ما علیه جمهورالعلماء لاجمهورالعوام فاخرج نفسک من ظلمة التقلیدوحیرة الاوهام واستضئ بمصباح التحقیق فی هذا المقام فانه من منح الملک المنان ».

ژباړه : « داشارې دکولو په اړه په ډېرو عاموکتابونوکې لکه په بدایع اوداسې نورو کې هم داسې یادونه شویده لکه ما (علامه ابن عابدین رح) یې چې عبارتونه په خپله رساله کې چې نوم یې (رفع الترددفی عقد الاصابع عند التشهد) دی ذکر کړی دی چې لومړی به نورې ګوتې راټولې اوبیابه دشهادت ګوته دنفې (لآاله) په وخت کې پورته کیږي اوداثبات (الاالله) پـه وخـت کـې بیرتـه کښـته کیـږي اوورسـتنیو علمـاوو دې مسئلې تـه اعتبارورکړی دی دنبي (ص) په صحیحو احادیثوسره یې ددې عمل ثبوت کړی دی اوددې عمل دصحت لپاره یې داحنافوله درې ګونو امامانوڅخه نقل کړی دی ، لکه چې دفتح القدیرپه کتاب کې یې چې داسې یادونه شویده : چې ګوتې په هواریاغوړیدلي حالت کې ساتل او اشاره نه کول دعقلي اونقلي دلیل خلاف کاردی ،مګر زمونږپه زمانه کې ډیرخلک ګوتې په خپل هوارشکل ساتي اواشاره کوي داقول دهیچاڅخه ثابت نه دي چې پرته له الشارح کتاب ( چې دللشرنبلالیه کتاب شرحه ده چې دبرهان کتاب نه نقل شوي ده چې دادعلامه الطرابلیسي صاحب الاسعاف چې په لسمه هجري پیړی کې یې ژوند کولو ) څخه بل چاپه دې اړه څـه نـه دي ویلي.کلـه چـې دپـورتنی لیکـوال دقـول اودجمهـورو مخکینیـو او وروسـتنیو شـارحینو (شننونکو) په قول کې اختلاف راشي نو دجمهورو علماوو قول ته ترجیح ورکول کیږي اوپه هغه سره به عمل کیږي نه دعوامو خلکو په قول نو ؛ په دغه ځای کې لیکوال دتقلید له تیارې ،دحیرانتیا اوشک له

(c) ketabton.com: The Digital Library



تيارې ځان ايستلی دی اودا مسئله يې دتحقيق اوڅيړنې په ځراغ سره روښانه کړه اوپه ده باندې دالملک المنان رب لورينه شويده .»

په همدې ترتيب ابن همام (رحمة الله عليه) په خپل کتاب فتح القديرکې په لاندې عبارت سره ددې موضوع دتاييد لپاره داسې فرمايلي دي :

«واتفقت الروايات عن اصحابنا جميعا فی کونه سنة وکذا عن الکوفيېن والمدينيېن وکثرت الآ ثار والاخبار وکان العمل بها اولې ... لان محمدا قال فی کتاب المشيخة: انه کان يشير فنفعل ما فعل النبی (صلی الله عليه وسلم) ونصنع ماصنعه وهوقول ابی حنيفه (رحمة الله عليه) وقولنا ... وهو المروی عن محمد فی کيفيته الاشاره قال يقبض خنصره والتی تليها ويحلق الوسطی والابهام ويقيم المسبحة کذا عن ابی يوسف (رحمة الله عليه) فی المالی ... وروی ان ائمتنا الثلاثة : ابی حنيفه وابی يوسف ومحمد(رحمة الله عليه) انه (صلی الله عليه وسلم) يشيرعندالتشهد وانه(صلی الله عليه وسلم) يعقداصابعه ... ومعلوم ان مدارسعی المجتهد علی العمل بما صح عن رسول الله (صلی الله عليه وسلم) اما بعدصحة وثبوت فلا يصح اذلا مجال للرای مع النص ... ولذا قال المحقق ابن الهمام (رحمة الله عليه) ان عدم الاشارة خلاف الرواية ولدراية ».

ژباړه : « دټولواحنافوپه اتفاق سره اشاره کول سنت ده اوهمدارنګه دکوفې اومدينې دخلکوڅخه ډيرروايات اواخبارشته دي چې وايي په هغه سره عمل کول غوره دي ځکه چې محمد(رح) دالمشيخه په کتاب کې ويلي دي داچې پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) اشاره کوله نوموږهم په هغه څه چې پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) پرې عمل کړی عمل کوو چې داخبره د امام ابوحنيفه (رح) ده اوزماخبره هم داده اوداشارې څرنګوالی اوکيفيت دامام محمد(رح) څخه داسې روايت شوی دي : دښي لاس دری ګوتې «خنصره (غچی) ،بنصره(په غچی ګوته پسې) ،وسطی(منځنی)» راغونډوو اودابهام ګوته (بټه ګوته ) دوسطی (منځنی ) ګوتې سره نښلوؤ او مسبحه (دشهادت ګوته) پورته کوو .

اوهمدارنګه دامام ابويوسف (رح) څخه دالمالی په کتاب کې يادونه شوې ده اوله مونږ دری واړه امامانوڅخه همداډول روايت شويدي ،امام ابوحنيفه (رح) ، امام محمد(رح) اوامام ابويوسف (رح) وايي چې پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) به دناستې په حالت (التحياتو) کې اشاره کوله ،اوداهم معلومه خبره ده چې مجتهد که هر څه ووايي بايد له قرآن اونبوي سنتو څخه يودليل ولري ،وروسته له دې چې ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library



حديث صحت(سم والی) ثابت شو نو ؛ دابياصحيح نه ده چې څوک له ځانه نظراو رايه ورکوي اوهمدارنګه ابن الهمام (رح) وايي چې داشارې نه کول دروايت (نقل) اودرايت (عقل)([1])خلاف کاردي.

په همدې اساس ابن عابدين (رحمة الله عليه) هم دخپلو ليکنو او رسالوپه لړکې له يوې خپلواکه رسالې څخه دشهادت په ګوته سره داشارې په اړوند لاندې مهمې نقطې دتبرک لپاره راوړل شوې دي :

«فيقول فقيرالی رب العلمين محمدبن عابدين وقد کنت جمعت رسالتی سميتها رفع التردد فی عقد الاصابع عند التشهد اثبت فيها تصحيح الاشاره مع العقد نقلا من کتب ائمتنا الخالية عن النقد بعبارات صريحة المنيعة وخيرني منيفة بديعة ثم اطلعت الآن علی رسالة مسمات بتزيين العبادة لتحسين الاشارة الخاتمة القراء ولفقهاء والمحدثين ونخبة المحقيقين والمدقيقن السيد ملا علی قاری عليه رحمة ربه الباری فرائيته رجع فيها رواية الاشارة بالادلة القوية من نصوص الفقها ء والسنة السنية حتی ادعی انه متواتر... ثم قال : هذه احاديث کثيرة بطريق معددة شهيرة فلاشک فی صحة اصل الاشارة لان بعض اساتيد ها موجودة فی الصحاح الست مما کاد ان يصير متواترا بل يصير ان يقال له متواتر المعنی ، فکيف يجوز لمومن بالله ورسوله(صلی الله عليه وسلم) ان يعد ل عن العمل به فياتی بالتعليل فی معرض النص الجليل وهوماقيل نقلا عن بعض المانعين فان فيها زيادة الرفع لا يحتاج اليها فيکون الترک اولي لا ن مبنی الصلوة علی الوقار والسکينة وهو مردود بانه لوکان الترک اولي لما فعله (صلی الله عليه وسلم) وهو (صلی الله عليه وسلم) علی صفة الوقار والسکينة فی المقا م الا علی لاشک ان الاشارة الی التفريد مع العباده بالتوحيد نورعلی نور وزيادة سرور فهو محتاج اليه بل مدارالصلوة العبادة والطاعة عليه ....ثم من ادلتها الاجماع اذلم يعلم من الصحابه رضی الله عنه ولامن علماء السلف فی هذه المسئلة ولا فی جوازهذه الاشارة ولافی تصحيح هذه العبارة بل قال به امامنا الاعظم وصاحباء وکذا امام المالک والشافعی واحمد وسائر علماء الاعصار (رحمة الله عليه) علی ماوردبه صحاح الاخبار والآثار... وقداغرب بعضهم حيث عد الاشارة من المحرمات وهوخطاء عظيم وجرم جسيم ومنشاء الجهل من قواعد الاصول ومراتب الفروع من النقول ، فهل يجوز لمومن ان يحرم ماثبت من فعله (صلی الله عليه وسلم) مماکاد نقله ان يکون متواتراً ؟»

---

([1])- درايت (الدراية): دعقل له نظره دمسائلوخيرني ته ويل کيږي يادعقل له نظره ديوشي منل يانه منل ياد (عقلي دليل) راوړلوته وايي. (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : « دعالمیانوپالونکي ته خوار محمدبن عابدین وایي: مایوه رساله راغونده کړه چې په هغه مې نوم (رفع التردد فی عقد الاصابع عند التشهد) کیښود چې په هغه کې دشهادت په ګوته سره داشارې کولوصحیح والی ثابت شوی دی چې دا د احنافوداامامانو له کتابونوڅخه رانقل شوې ده چې له نقداونیوکې څخه لیرې اودهغې عبارتونه په واضح صورت سره بیان شوی دی اوپه هغې کې ترسره شوې څیړنې بدعت هم نفې کوي . خو وروسته دبلې رسالې په اړه خبرشوم چې د(تزیین العباده لتحسین الاشارة) په نوم وه چې په هغه کې دفقهاوو ،محدیثینو ، اوجیدومحقیقینوڅخه نقل قول شوی دي اودهغه لیکوال سیدملاعلی قاری (رح) دی چې په التحیاتوکې دشـهادت په ګوتـه داشارې پـه اړه یـې دنبـوي سـنتوله نصوصـو څـخه دقوي دلایلـو پـه راوړلوسره ویلي دي :چې همداحادیث متواتردي اووروسته بیاوایي چې په دې اړوند زیات حدیثونه شته دي چې ټول مشهوردي اودهغه په صحیح والي کې هیڅ شک نشته اوددغه حدیثونو ځینې اسنادونه په شپږګونو صحاحیحو کې موجود دي ، امکان لري چې دمتواترحدته ورسیږي ښه به داوي چې ووایو:چې معنوي متواتردي نو ؛ داجواز نه لري چې څوک په خدای (جل جلاله) اودهغه په رسول (صلی الله علیه وسلم) لومړی ایمان ولري اوبیا دهغه نه مخ واړوي ،خوځینو ویلي دي چې داعمل بایدسرته ونه رسیږي ځکه چې پـه لمانځـه کې باید دالله (جـل جلالـه) څخه ویره موجـوده وي اونوموړی عمل په لمانځه کې دسرې دبوختیا سبب کیږي ،داقول مردودګڼل شوی دي که چېری داعمل صحیح نه وای نوبیا به رسول اکرم (صلی الله علیـه وسـلم) هیڅکلـه اشـاره سـرته نـه وای رسـولې ، اوپـه دې کې هـیڅ شـک نشـته چـې دشهادت پـه ګوتـه سـره د اشـارې کولوپـه ذریعـه سـړی خپلـه یوازنۍ خدای پالنـه ثـابتوي ، بلکه دعبـادت مدارپه یوازنۍ خدای پالنه باندې څرخیږي ، له دې دلایلوڅخه وروسته ددې وخت اوزمان اجماع ده چې که چېری لـه اصحابوکراموڅخه په دې اړه څه پوهه اومعلومات نه وای اویا دپخوانیوعلمـاوو کراموڅخه ددې مسئلې دجـواز پـه بـاره کې فتـوی موجـوده نـه وای اویاهغـه روایتونـه چې په دې بـاره کې راغلي دي صـحیح نـه وای ،بلکـه پـه دې سـره امـام ابوحنیفـه (رح) اوصـاحبین اوهمدارنګه امـام مالـک (رح) ،امـام شـافعی (رح) ،امام احمـد(رح) اونورپخواني علمـاءکرام قایل دي ، ځکه هغه آثار چې داشـارې پـه بـاره کې بیان شـول ټول صحیح دي ،یقینا هغه کسانوچې دشهادت په ګوته سره اشاره کول یـې دحراموله جملې څخه ګڼلې دي فریـب خـوړلی دی ،اودایوه لویـه تیروتنـه اولـوی جرم دی اوددې خبرې اصلي منشـه پـه ناپوهۍ سره دقواعدو ،اصولو ،اودفروع دمراتبو رانقلول دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



آیا داکاردهغه کسانوسره ښایې چې ایمان هم ولري اودپیغمبر(ص) فعل حرام وګڼي اودحضرت محمد(صلی الله علیه وسلم) هغه فعل چې امکان لري هغه روایت دمتواترحد ته ورسیږي . »

اوهمدارنګه په قطب الارشادکې هم په دې اړه داسې لیکي :

«وهی ...( الاشاره بالمسبحه) مأ ثورة عن النبی (صلی الله علیه وسلم) رواه خمس وعشرون وست وعشرون من الصحابه رضی الله عنه بل قالوا : انه بلغ حد التواتر المعنوي وقد ذکرامام محمد(رحمة الله علیه) فی موطاء انه (صلی الله علیه وسلم) فعل ذلک ثم قال وبصنع رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ناخذ وهوقول ابی حنیفه(رحمة الله علیه) وعرفت من عادة محمد فی کتابه المذکورلانه لاینقل عن الامام الا المذهب المنصوروالمعمول به ونقل الشمنی والحلبی انه قول ابی یوسف فی الامالی وقال الدهلوی (رحمة الله علیه) فی شرحی المشکوة وسفرالسعادة : الحق ان مذهب الامام وصاحبیه (رحمة الله علیه) ان یشیر...وقال علی قاری (رحمة الله علیه) فی شرح الموطاء لانعرف فی المسئلة خلاف للسلف .»

ژباړه :« اودا ...(دشهادت په ګوته اشاره کول) دحضرت محمد(صلی الله علیه وسلم) یواثردي چې هغه پنځه ویشتو(۲۵) یاشپږویشتو(۲۶) کسانوله اصحابوکرامو(رح) څخه روایت کړی دي بلکه علماءکرام وایي چې : همدادشهادت په ګوته اشاره کول دمعنوي تواترحدته رسیدلې ده اوپه تحقیق سره محمد(رح) دموطاء په کتاب کې داسې بیان کړیده چې پیغمبر(ص) همداعمل سرته رسولواو وروسته وایي چې دپیغمبر(ص) په فعل سره موږهم عمل کوو اودا د امام ابوحنیفه (رح) قول دی اوس په دې پوه شوو چې دافعل دامام محمد (رح) عادت ؤچې دهغه په کتاب کې بیان شویدی ځکه چې دامام ابوحنیفه (رح) څخه له منصورپرته بل هیڅانقل نه دي کړی اوهغه څه چې بایدعمل پرې وشي ، دالشمنی والحلبی ویناده چې دامام ابویوسف خبره تصدیق کوي چې دالامالی په کتاب کې یې کړې ده اودهلوی (رح) دمشکوة اوسفرالسعادة په شرحه کې وایي : دامام ابوحنیفه (رح) اوصاحبینو (رح)خبره حق اوسمه ده چې وایي اشاره وکړئ اوعلی قاری (رح) دموطاء په شرحه کې وایي په دې اړه مې دپخوانیوسلفو کرامو (رح) څخه هیڅ اختلاف ونه موند . »

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوهمدارنګه دمحمدي طريقې (طريقه محمديه) د کتاب په(۲۶۸) مخ کې وروسته له دې چې دصوفيه حرکاتو په اړه يې بحث اوتبصره کړې داسې فرمايې:

«واماتحريک الرأس يمنة ويسرتا تحقيقا بمعنى النفي والاثبات فى لااله الا الله بل ظن الغالب جوازه بل استحبابه اذکان مع النية الصالحة فخرج عن حد العبث واللعب فيکون فعل دالأ على التوحيد مقارنأ للقول الدال عليه فيکون کلمة کلمتين واصله رفع المسبحة فى الصلوة فى التشهد...».

ژباړه : «مګردسربښي اوچپ طرف ته ښورول دلااله الاالله دنفې اواثبات دثابتولوپه معنى سره دي د( لااله الاالله) په کلمه اوپه غالب ګمان سره جوازلري بلکه مستحب ده په داسې حال کې چې له ښه نيت سره وي نو ؛ دلهواولعب له حداو اندازې څخه خارجيږي نودغه کړنه اوعمل په توحيدباندې دلالت کوي دهغه له بيان سره يوځای چې په همدې توحيدسره دلالت کوي نويوه کلمه دوی کلمې ګرځي اواصل يې په لمانځه کې (دناستې په حالت ) دشهادت دګوتې پورته کول دي . »

اوپه همدې ترتيب امام ابوجعفرطحاوی (رحمة الله عليه) دمعانى الاثار په شرح د(صفةالجلوس فى الصلوة کيف هو؟) په باب کې داسې ليکي :

«فلماقعدللتشهدثم عقداصبعه وجعل حلقة بالابهام والوسطى ثم جعل يدعو بالاخرى (اى يشيرللاخرى الى التوحيد وهى المسبحة...) فثبت بذالک ماروى وائل بن حجر رضى الله عنه وهوقول ابى حنيفه وابى يوسف ومحمد(رحمة الله عليه ).» ۱۵۱-۱۵۳ مخ

ژباړه : «پس هرکله چې په لمانځه کې دالتحياتولپاره کېناست ،بيايې راټولې کړې ګوتې(غټې اووړپسې) بيايې دبټې اومنځنی ګوتې په واسطه حلقه جوړه کړه اوپه بلې ګوتې (دشهادت ګوته) سره دعاوکړه يعنې دالله (جل جلاله) دوحدانيت اويوالي لپاره يې اشاره وکړه نوپه دې سره هغه څه ثابت شول چې وائل بن حجر(رضى الله عنه) روايت کړی دي اودا دامام ابوحنيفه ،امام ابويوسف ، اوامام محمد (رحمة الله عليه) قول دي . » اوپه همدې ډول شاه عبدالعزيزدهلوي (رحمة الله عليه) په خپله رساله کې دشهادت په ګوته اشاره کول اوهمدارنګه دده دفتواوو په کتاب کې په دې اړه ډېرې خيرنې لري چې دخوکرښوخلاصه يې دخيراوتبرک په توګه رااخلم :

(c) ketabton.com: The Digital Library



دشـهادت پـه ګوتـه سـره اشـاره کـول پـه صحیصـواحادیثو اودامـام اعظـم (رحمـة الله علیـه ) ،صـاحبیه ،امـام مالـک (رحمـة الله علیـه ) ،امام شـافعی (رحمـة الله علیـه ) ،امام احمـد (رحمـة الله علیـه ) اونوروپـه نـزد داصحابوکرامو له روایاتوڅخه چې ټول په دې سره متفق دي ثابته شوې ده.

پس!! دشهادت په ګوته سره داشارې کولودسنت والي دثبوت لپاره دشک اوتردید ځای نشته .ابن همام دهدایې په شرح اوهمدارنګه په نورومعتبروکتابونوکې لکه : ملتقط ،خانیه ، زاهدي ،کفایه ،شمنی په شرح نقایه اودهدایې صاحب دانوازلوپه مختاراتو کې دشهادت په ګوته اشاره کول تایید کړی دي .

دا ؤ دمحققوعلماوو یولړڅیړنې اوتحقیقات چې هریوه په خپل وار په خپلوکتابونو ،رسالواوتألیفاتوکې ډیر زحمتونه ایستلی دي اوددې قضیې مختلف اړخونه یې په مختلفوطرحوکې څیړلي دي اوپه دې اړه یې لازمې تبصرې وړاندې کړې دي چې ددوی دغه څیړنې په خپلو مراجعوکې په مفصل ډول سره لیکل شوی خو ماحقیربنـده وغوښـتل چـې ددې موضـوع پـه اړه خلاصـه مباحـث پـه لنـډه توګـه چـې دمعتبروثقـه اومحقیقینوعلماء دتحقیحاتواوڅیړنو په پایله کې په څوکرښوکې راغونډ کړم چې په دې لارکې لوی خدای (جل جلاله ) راسره مرسته اویاری وکړه بناً هربل ورور چې وغواړي په دې باره کې معلومات لاس ته راوړي په لومړی مرحله کې کولای شي چې ددرانه استادښاغلی مولوی ابوالفاروق (عاجز ) صاحب مدظلله العالی دتالیف کړی کتاب (مفتاح البشاره لاهل الشارة ) ته مراجعه وکړي اوهمدارنګه که وغواړي په دې برخه کې زیات معلومات لاس ته راوړي ددې رسالې په آخرکې ځینې نورې سرچینې اومآخذونه ذکر شوی دي چې له تاسو سره دمعلوماتوپه برابرولوکې مرسته کوي.

دیـــادونې وړده چـــې محقـــق دمجتهـــدینو کراماوقـــوال اونظریـــات اودعظاموعلمـــاوو کرامـــو تایئـــدات دمعلوماتودبرابرولواوتـدوین لپـاره پـه اړینـه توګـه مطالعـه کـړي اوپـه مهربـانۍ سـره یـې دقـدر وړاسـتاذانوته وړاندې کړي ترڅوله اشتباهاتو اوتیروتنو څخه وژغورل شي .

اولـه بلې خواهغـه زحمتونـه چې پـه دې برخـه کې یـې ایسـتلي ګټوروواقع شي اودې تـه ورتـه نـورو مـواردو دتدوین لپاره په راتلونکې کې نورهم تشویق شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هغه اصول اوقواعد چې دشهادت په ګوته سره داشارې کولو په وړاندې نیوکې دفع کوي

### الف- دحدیث په متن کې داضطراب([2]) (ګډوډۍ) نشتون :

«..انه لیس اضطراب فی باب حدیث الاشارة بل کان رسول الله (صلی الله علیه وسلم) یختلف فی افعاله فی هذا الباب کما وقع الاختلاف فی افعاله(صلی الله علیه وسلم) فی باب صفة الصلوة : الجلوس ووضع الیدین فی حالة السجودورفعهاعند الافتتاح ووضعها فی حال القیام کما لایخفی علی الماهر فی الفقه والحدیث ... ولم یقل احد بالاضطراب فی هذا الباب االاقائل والسندي والکاشغری وهم لیسوامن المحدثین واهل الترجیح ، فاذا عارض کلامهم کلام جمهورالفقهاء والمحدثین لاسیماالائمة المجتهدین الذی کان علی مذاهبهم مدارالشریعة والدین فکان العمل علی ماقاله الجمهورفی هذاالباب فاعتبروا یااولي الالباب... » مفتاح البشارة لاهل الاشارة : ۱۲۰ مخ ، محمودالفتاوی : ۱۱۵ مخ

...لا ضطراب فی الروایات فان القصة رواها عدة من الصحابة رضی الله عنه والغرض من الکل رفع المسبحة وضم سائرالاصابع وبمثله جمع ابن قیم فی الهدي حیث قال : وهذاالرویات کلهاواحده...».

رساله کدنویه : ۱۱۰ مخ

ژباړه : «کوم حدیث چې دشهادت په ګوته سره داشارې په اړه راغلی په هغه کې اضطراب (دهغه په راوي کې جرح ) ([3]) نشته ،نبي کریم(صلی الله علیه وسلم) به کله اشاره کوله اوکله به یې نه کوله ، لکه څرنګه چې نبي کریم(صلی الله علیه وسلم) دلمانځه دصفاتوپه اړه پخپلوافعالوکې بدلون راوستلولکه په جلسه کې چې کله به یوډول اوکله به بل ډول کېناسته اوهمدارنګه لاسونه به یې کله یوځای اوکله بل ځای ایښودل ،سجده هم په همدې ډول نودنبي کریم(صلی الله علیه وسلم) دا افعال هغه شخص ته ښه معلوم دي څوک چې په نبوي احادیثو اوفقه باندې پوه وي ،په دغه حدیث باندې داضطراب قائلیدل تنها سندي اوکاشغري ښه لري بلکه دغه اشخاص داهل ترجیح اومحدیثینوله جملې څخه نه دي بناً ددوی په قول اعتبارنشته نوپه همدې اساس دجمهورواقوالوته ترجیح ورکول کیږي . خلاصه : دټولوروایاتوڅخه داخبره معلومیږي چې دلاس نورې ګوتې دراټولې اودشهادت په ګوته سره داشاره وشي . »

---

([2]) - داضطراب لغوي معنی: لړزیدل ،نا آرامي.
([3]) - دجرح لغوي معنی: د کلماتو اومطالبو حذف او اصلاح.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ب- په ظاهرالروایت([4])کې دشهادت په ګوته داشارې دیادونې نشتون :

«...وزعـم الـبعض لنفيهـا لعـدم ذكرفـى ظاهرالروايـة وهـوزعم فاسـد لان عـدم الذكرلايـدل علـى ذكرالعـدم وقـدتقررفى القواعـد : ان المسـئلة اذا سـكت فيهـا ظاهرالروايـة يوخـذ مـن النـوادرثم كتـب الواقعـات وائمـة اصحاب التخـريج مالم يصـادف خبرأ او اثرأ قويـا او دليلا صحيحا ،وقال شـاه ولي الله (رحمـةالله عليـه) فى حجة الله البالغة (٢-١٢) ان لم يذكره محمد (رحمة الله عليه) فى الاصل ذكره فى الموطاء...»

رسالة کدنويه : ٢٣ مخ ، دمعارف السنن په حواله : ٣-١٠٠ مخ.

ژباړه : « بعضی علماء کراموداګمان کړی دی چې دشهادت په ګوته سره اشاره کول په ظاهرالروايت کې شتون نه لري نوبناًدغه اشاره کول نفې شوې ده بلکه داخبره اوګومان باطل (ناسم) دی ځکه چې په ظاهرالروايت کې ديوه شي نه ذکرکول دهغې په نه شتون باندې دلالت نه کوي . همدارنګه شاه ولي الله (رحمة الله عليه) په حجة الله البالغة کتاب کې فرمايلي دي چې دامسئله امام محمد (رحمة الله عليه) په خپل کتاب موطاء کې بيان کړې ده . »

اوهمدارنګـه دمولـوی ابوالفـاروق پـه تـاليف شـوې رسـاله (مفتـاح البشـارة لاهـل الاشـارة) کـې فقيراحمدعاجزخوافی الهروي داموضوع داسې روښانه کړيده :

«...فثبت بهذاالاصل ان ماصرح به الامام محمد بن الحسن(رحمةالله عليه) فى الموطاء ان هذاقولي وقول ابی حنيفة(رحمةالله عليه) ملحق بظاهرالرواية فى الاعتباربل هوآكدواقوي من كتب ظاهر الرواية لانه مويد بالآثارالمرويـة عـن الشـارع المقدس ويدل على هـذاقول المحقـق الخضرمى فـى التـاريخ التشـريح الاسـلامي صحيفة ٢٥٩ حيث قال : محمدبن الحسـن احد الذى روى الموطاء عـن مالک ابـن انس(رضی الله عنـه ) ويعقب احاديثه بما يجب عليه العمل عند ابی حنيفة (رحمةالله عليه) ... ».

ژباړه : «داخبره په دغه اصل سره ثابتيږي کوم چې امام محمد(رحمةالله عليه) په خپل کتاب موطاء کې بيـان کړيـده اودايـې ويلـي دي چـې دا زمـا او امـام ابوحنيفه(رحمـةالله عليـه) قـول دي اودغـه خبـره پـه ظاهرالروايت پورې تړلې ده ،اوددې خبرې اعتبار دظاهرالروايت له کتابونو څخه قوي دي ځکه داخبره چې

([4]) - ظاهرالروايت : په څرګنده توګه په نقلي (کتابونو ،رسالو اونورو..) کې دمسائلو شتون ،دليل او يادونې ته ويل کيږي.(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما په خپل کتاب موطاء کې کړې ده ددې خبرې تائید په احادیثو کې شوی دی اوهمدارنګه په دغه خبره باندې د(خضرمی) قول هم دلالت کوي کوم چې د(اسلامي تشریح تاریخ ) په کتاب کې یې یاودونه شوې ده اوداسې یې ویلي دي :

« محمدبن الحسن دهغو اشخاصوله جملې څخه دی چې دامام مالک (رحمةالله علیه) په کتاب موطاء کې یې یادونه شوې ده اوله هغې نه وروسته یې هغه احادیث راوړي دي چې دامام ابوحنیفه (رحمةالله علیه) په نزد په هغه باندې عمل واجب دی . »

**ج- دوقاراو آرامی نشتون :**

«...قیل نقلا عن بعض المانعین فان فیها (اشارة) زیاده الرفع لایحتاج الیها فیکون الترک اولې لان مبنی الصلو ة علی الوقاروالسکینة وهو مردودبانه لوکان الترک اولې لمافعله (صلی الله علیه وسلم) وهو(صلی الله علیه وسلم) علی صفة الوقاروالسکینة فی المقام الاعلی. » مجموعة الرسائل السیدمحمدامین المشهورباین عابدین (رحمةالله علیه) .

ژباړه : « ځینودهغه کسانو څخه چې دشهادت په ګوته سره اشاره کول نه منې داسې نقل کړی دی چې داشارې په کولوسره عاجزي اوآرامي له منځه ځي کوم چې د لمانځه لپاره ضروري ګڼل کیږي بناًداشارې نه کول غوره دي ، بلکه دا خبره مردوده ده ځکه که داشارې نه کول غوره وی نونبی کریم (صلی الله علیه وسلم) بـه اصلاً اشاره نـه وای کړې پـه داسې حال کې چې نبی کریم (صلی الله علیـه وسـلم) دپوره کمال ،وقار اوآرامۍ سره لمونځ اداء کاوه . »

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دشهادت په ګوته داشارې کولو په اړوند دشهیدمیرزا مظهر«جان جانان (رحمة الله علیه) » فقهې څیړنې په داسې حال کې چې لارښودیې (رحمة الله علیه) دشهادت په ګوته سره اشاره کول منع کړی ؤ**

شهید میرزامظهر(رحمة الله علیه) چې په (جان جانان) سره مشهورؤ او دحضرت مجددالف ثاني (رحمة الله علیه) له مهمو اوممتازو خلفاوو څخه ګڼل کېده چې له ده څخه دشهادت په ګوته سره داشارې دکولوپه اړه داسې پوښتل شوی دي :چې حضرت مجدد صاحب(رحمة الله علیه) دخپلو مکتوبونوڅخه دیوه مکتوب له مخې دشهادت په ګوته سره داشارې کول منع کړي دي اوته په داسې حال کې چې له هغه مجددصاحب(رحمة الله علیه) سره زیاته مینه اوخواخوږي هم لرې خو دشهادت په ګوته سره داشارې په کولوباندې تاکئید کوې ددې خبرې علت څه شی دی ؟

میرزامظهر(رحمة الله علیه) ددې پوښتنې په ځواب کې داسې لیکلي دي : «ماکان لمومن ولا مومنه اذا قضی الله ورسوله امرأ ان یکون لهم الخیرة من امرهم ...»

ژباړه : « دهیڅ یومومن سړي اومومنې ښځې لپاره په یوه کارکې خیر نشته ترڅو چې الله (جل جلاله) اودهغه رسول (صلی الله علیه وسلم) دهغه کارپه کولوسره امر نه وي کړی . »

حضرت مجددصاحب(رحمة الله علیه) چې دآنحضرت(صلی الله علیه وسلم) دسپیڅلې لارې یو پیرو او نماینده دي او دخپلې طریقې اساس یې دکتاب الله اوسنتو پر پیروئ سره ایښی دی اوپه دې برخه کې ډیرو نورو علماء کرامو(رحمة الله علیهم) دشهادت دګوتې داشارې درفع کولو داثبات لپاره دصحیحواحادیثو او روایاتو دراوړلو په اساس ډیرې رسالې تألیف کړې دي ، همدا راز حضرت شاه یحیی(رحمة الله علیه) دحضرت مجدد صاحب(رحمة الله علیه) زوی هم په دې اړه یوه رساله لیکلې ده اوداسې یې په کښې فرمایلي دي :

سنت په اجتهادباندې له نسخ کولوڅخه محفوظ دي اوکه څوک ووایې چې دده (مجددصاحب) له لوري پراجتهادباندې ترک رفع(دشهادت دګوتې نه پورته کول) واقع شوی دي نو زه یې په ځواب کې داسې وایم چې : سنت په اجتهادباندې له نسخ څخه محفوظ دي او وروسته دهغه ثبوت په هیڅ حجت اودلیل سره مقبول اومعقول کېدلای نه شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوهمدارنګه میرزامظهر(رحمة الله علیه) داسې فرمایلي دي : دحضرت مجددصاحب (رحمة الله علیه) ددې دریغ اصلي علت د هند مملکت ته دکتابونو او رسالو نه رسیدل ؤ چې دهغه له نظرڅخه تیرشوی وای (تیرشوی نه دي) کنه نو ؛هیڅکله به یې دهغه دپریښودلو په باره کې څه نه وای فرمایلي. اوکه چېرې څوک ووایي چې ممکن حضرت مجدد(رحمة الله علیه) دحضرت درضادنشتوالی اودهغه څخه دورک شوی رسالت دپیداکولو اوپلټلو لپاره یې داعمل پریښی وي ؟ زه وایم (میرزامظهر) چې دطریقت په چاروکې کشف اوپلټنه معتبرعمل دي اودشریعت په احکاموکې دلیل اوحجت نشته اوحضرت مجدد(رحمة الله علیه ) دسنتوپه پرېښودلوسره په ډېرتحذیر سره داخبره کړیده په داسې حال کې چې هغه پخپله دحنفي مذهب پیروي کوله اوامام ابوحنیفه (رحمة الله علیه) دځینومسائلوپه اړه داسې ویلي دي : «اذاثبت الحدیث فهو مذهبی واترکواقولي بقول رسول صلی الله علیه وسلم .»

ژباړه : «کله چې دیو ې مسئلې په اړه حدیث شریف ثابت شي نوهغه زما مذهب دي اوله خپلې خبرې څخه درسول الله( صلی الله علیه وسلم) په قول سره تیرېږم . »

نو ؛ په صحیحواحادیثوکې بایدتغیر رانه وړل شي ، په داسې حال کې چې دمجدد(رح) د مکتوب دپلټنې اوکشف په اړه هیڅ ډول غبرګون نه دی څرګندشوی ،هیله داده چې له هغه سره زمامخالفت دیوې کلي قاعدې له مخې چې دحضرت محمد( صلی الله علیه وسلم) پرپیروي باندې ترنورو ترجیح ورکړل شویده نبې پایلې ولري . والسلام ، کلمات الطیبات :۲۸ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په زره پورې پلټنه

که څوک ووايي چې ولې دلمانځه په التحياتو کې« وحده لاشريک له» نشته ؟

په ځواب کې يې ووايه :

لومړی :

څرنګه چې دالتحياتوموضوع اوقضيه دمعراج په شپه په آسمان کې منځ ته راغلې داچې په هغه ځای کې دشرک ځای موجود نه ؤچې دهغه نفې په لفظي ډول سره صورت ونيسي .

دويم :

داچې د«وحده لاشريک له » معنی اومفهوم دشهادت دګوتې په اشارې سره عملا صورت نيسي په همدې خاطرد«وحده لاشريک له » محتوی عملا له ځان سره لري .

مفتاح الصلوة (۱۰۴) له معارج النبوة څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پیوستونه

دحضـرت محمد(صـلی الله علیـه وسـلم ) لـه سـنتوڅخه دپیـروئ اوپـه هغـه بانـدې دعمـل فضـایل ،دیني اوعقیدتي اوامر اومسائل په اعضاوو(غړیو) سره دسرته رسولوپه باره کې اړین پیوستونه :

## ویل ،کول اونیت

دهرمسلمان شخص ویل ،کول اونیت هغه وخت دخدای(جل جلاله) په نزد ارزښت اواعتبارلري چې دحضرت محمد(صلی الله علیه وسلم) دکړو وړو اوطریقې سره برابروي لکه چې حضرت محمد(صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي :

«لاقول الا بالعمل ولاقول ولا عمل الابالنية ولاقول ولاعمل ولانية الاباتباع السنة.»

ژباړه : «دهیڅ ویلواوخبروګته اوارزښت نشته مګرپه عمل سره همدارنګه هیڅ ویل اوعمل ارزښت نه لري مګر په پاک نیت سره ، هیڅ عمل اونیت ګټه اوارزښت نه لري مګرپه متابعت دسنتوسره . »

هو! هغه وخت چې یومومن بنده په پاک نیت سره په یوڅه اعتراف وکړي اوهغه عملا دالهي احکامومطابق اودرسول الله(صلی الله علیه وسلم) په متابعت اوسنت طریقې سره پای ته ورسوي اوپه هغه عمل وکړي نوپه دې صورت کې به دکوم فکراواندیښنې ځای نه وی پاتې شوی ، چې دغه مومن بنده دالله (جل جلاله) دبنده ګۍ د ادعاء په کولوکې بریالی شوی وي او دالله (جل جلاله) په نزد به یې درسول الله(صلی الله علیه وسلم) دشفاعت ډالۍ ترلاسه کړې وي .

اللهم وفقنابمتابعت سنن رسولک المکرم ولاتحرمنامن شفاعة (صلی الله علیه وسلم).

چه غم دیوار امت راکه داردچون تو پشتیبان

چه باک از موج بحرآنرا که باشد نوح کشتیبان

(سعدي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لمونځ هغه وخت دکمال درجې ته رسیږي چې دزړه حضورپه کې منځ ته راشي

## (لاصلوة الابحضورالقلب)

«عن علی (رضی الله عنه) ان الصلوة التی لا وسوسة فیها انما هی صلاة الیهودوالنصاری فان اللص لا یدخل البیت الخالي .» قطب : مخ ٢٢١

ژباړه : «له حضرت علی(رضی الله عنه) څخه روایت دي چې له شک پرته هغه لمونځ چې په هغه کې وسوسه نه وي هغه دیهودو اونصاری وو لمونځ دی ځکه چې غل دغلا کولولپاره خالي کورته نه داخلیږي. »

غل اودلارې وهونکی هغه ځای ته ځي چې څه په لاس راوړي اوهدف ته ورسیږي .په همدې اساس کله چې شیطاني تاثیرات په هرحال اوپه ځانګړي ډول دلمانځه داداء کولوپه وخت کې دمومن بنده په زړه کې وروستی پایې ته ورسیږي بناً دشخصي احوال په غوښتنودلمونځ کوونکي حضورپه زړه اوذهن کې کمیږي اویاهم ورکیږي اودلمونځ کوونکي فکرپه بې پروایئ اولېرې خیالونوکې ځي دراز اونیاز اوزاریوله ګټواوښیګنوڅخه لیرې کیږي دلته لمونځ کوونکي ته لازمه ده چې دیوعملي کارپه لټه کې شي ،ترڅوحضوریې راغونډشي نودشهادت په ګوته سره اشاره کول کولای شي دلمونځ کوونکي دحضورلپاره زیات ثبات وبښي ، داشارې عمل لمونځ کوونکی دې ته آماده کوي چې دزړه حضوریې پیداشي یایې سم دلاسه دزړه حضورمنځ ته راوړي او دنوموړي لمونځ کوونکي لمونځ اوزارئ د(لاصلوة الابحضورالقلب) له تهدیدونو اوننګونوڅخه خوندي پاتې کیږي ،اوبالاخره ددې سنت عمل په ترسره کولو سره دلمونځ کوونکي عبادت اوطاعت دالله (جل جلاله) په لوی دربارکې قبول شي اودتهدیدونواوتکلیفونومخه به هم ونیول شي. بمنه وکرمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په عبادتونو اوطاعتونوکې دزړه دحضوررازښت اومرتبه

«لايقبل الله من عبدعملاحتى يشهد قلبه مع بدنه...كل صلوة لايحضرفيها القلب فهى الى العقوبة اسرع. »

ژباړه :« الله(جل جلاله) دهيڅ يوبنده عمل اوعبادت ترهغه وخته پورې نه قبلوي ترڅو چې زړه يې له بدن سره حضور ونه لري هرلمونځ چې په هغه کې زړه حضور ونه لري دګناه لوري ته تلونکى دى. »

لوى خداى (جل جلاله) دخپلوبنده ګانوپه اعمالوکې دزړه عزم اوقوي اراده دمقبولېت اصل اومحورګڼلى دي اوپه دې اړه يې فرمايلي دي :

دبنده هيڅ عمل نه قبلوي ترڅوچې په هغه کې دزړه يوه قوي اومخلصانه اراده اوعزم (دزړه حضور) موجودنه وي اودبدن ټول غړي يې په هغه عمل سره شهادت اوګواهي ورنه کړي .

په همدې اساس څومره به ښه وي چې دالله (جل جلاله) هغه وحدانيت چې په ژبه يې ښکاره کوو په خپلوغړو(دشهادت په ګوته) سره ديوه پيداکوونکى خداى (جل جلاله) يوالى او وحدانيت هم ښکاره اواظهارکړو ،چې نوموړى عمل به دحضرت محمد(صلى الله عليه وسلم ) داحاديثومفهوم اومحتوى افاده کړې وي اوبس.

يک شو وتوحيد رامشهــود کن

غايبش راازعمل موجـــود کن

لـذت ايمــان فزايد درعمـــل

مـرده آن ايمان که نايد درعمـل

( اقبال لاهورى )

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دقیامت په ورځ دبدن دهرغړي دکړو وړو شهادت اوګواهي

«اذاخرجت اول الآیات یعنې یوم القیامة طرحت الاقلام وجیئت الملایکةوشهدت الجوارح علی الاعمال .. »

د ابوشکوربلخی (رحمة الله علیه) تمهید.

ژباړه : «کله چې راښکاره شي دالله (جل جلاله) دقدرت لومړنۍ نښانې یعنې دقیامت ورځ نو وابه چول شي قلمونه ،رابه شي ملائکې اوشاهدي به ورکړي اندامونه په اعمالوددوی (دانسانانو) . »

لکه څرنګه چې دانسان دبدن دغړواعتراف دانسان په خپلواعمالوباندې دقرآنکریم په سپیڅلوآیتونو اودرسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) په مبارکوحدیثونوکې بیان شوی دی لکه چې الله (جل جلاله) په قرآنکریم کې داسې فرمایلي دي : «یَوۡمَ تَشۡهَدُ عَلَیۡهِمۡ أَلۡسِنَتُهُمۡ وَأَیۡدِیهِمۡ وَأَرۡجُلُهُم بِمَا كَانُواْ یَعۡمَلُونَ ٢٤ » .

دالنورسورت (۲۴) آیت .

ژباړه :«په هغه ورځ چې ددوی ژبې اولاسونه اوپښې ددوی په عملونوشاهدي ورکوي ».

اوهمدارنګه رسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) په یوه حدیث شریف کې په دې اړه داسې فرمایلي دي :

«کماقال النبی (صلی الله علیه وسلم)...فی یوم القیامه...فیشهدعلیه لسانه...وتقول یداه انا للحرام تناولت...علیه عینه اناللحرام نظرت...» غالیة المواعظ افندي.

ژباړه: «لکه څرنګه چې نبی کریم (صلی الله علیه وسلم) دقیامت دورځې په باره کې فرمایلي دي شاهدي به ورکړي په ده (انسان) باندې خپله ژبه دده اولاسونه دده وبه وایي زه دحراموته وغزولم اوپه ده باندې به سترګې شاهدي ورکړي چې په ماباندې دنامحرمو(ښځو) ته وکتل. »

دلوی خدای (جل جلاله) په یوالي اووحدانیت باندې شهادت اوګواهي ورکول په تیره بیا دلمانځه په قعدوکې دشهادت په ګوته سره چې داعمل دخلاصون دهیلو اودآخرت دسختیوځخه دوتلولپاره دعبادت یوغوره اوباارزښته وخت اوفرصت ګڼل کیږي ، ځکه چې ددې عمل سرته رسول دزړه دارادې اوقصد یوانځورپه ګوته کوي چې دابه داعمالوپه کتاب کې ثبتیږي اوددې انځوراعمال به دمحاسبې پرمهال دډیرونیکیو اوحسناتوځخه وشمیرل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دالله (جل جلاله) دسپېڅلي ذات څخه په ظاهري او باطني غړيو سره دشرک نفې کول ځانګړی ثواب او ارزښت لري**

«...فان قلت : لم قدم النفي على الاثبات فقيل : لااله الاالله ،ولم يقل : الله لااله الاهو ،بتقديم الاثبات على النفي ؟ اجيب: بانه اذانفي ان يكون ثم اله غيرالله فقد فر غ قلبه عما سوى الله باللسان ليواطى القلب ولبس مشغولا بشئ سوى الله عزاسمه فيكون نفي الشرک عن الله تعالى بالجوارح الظاهرة والباطنة.»تحفة الاعالى ملاعلى القارى(رحمة الله عليه) شرح ضوع المعالى شرح بدرالامالى على بن على اوشي(رحمة الله عليه).

ژباړه : «که څوک په اعتراض سره ووايي چې : د (لااله الاالله) په کلمه کې ولې نفي داثبات نه مخکې راغلې ده او ولې داسې نه دي ويل شوی چې ( الله لااله الاهو) چې دلته اثبات دنفي څخه مخکې اومقدم ذکرشوی دي ؟ ځواب : کله چې په لومړي قدم کې باطل خدايان نفې شول اودانسان زړه دباطلوخدايانوڅخه فارغ اوبې پروا شواوله باطلو خدايانوڅخه دزړه دافارغيدل دژبې په واسطه سره ترسره شو ، نوکله چې ژبه له زړه سره موافقه وکړي ،زړه له باطلوخدايانوڅخه فارغ شي اوديوخدای (جل جلاله) لپاره ځانګړی شي نوپه دې اساس په ژبه اوزړه سره دشرک نفي منځ ته راځي يعنې له خدای (جل جلاله) څخه موشريک نفي کړهم په ظاهرکې چې ژبه ده اوهم په باطن کې چې زړه دي . »

## تبصره(څرګندونه):

پورتنی بيان شوی عبارت په غړو اوجوارحو سره دالله(جل جلاله) دوحدانيت اثبات اوتائېد روښانه کړی دی که هغه په ژبه سره وي او که په لفظ سره وي اوکه هغه په زړه سره وي اويا په عملي شکل دبدن په يوه غړي سره بناً دشهادت په ګوته سره اشاره کول خوبيخي دنورعلی نور(لفظاً- قلباً-عملاً) په حساب کې راځي (الاشارةاشد على الشيطان من الحديد ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په فعل اوعمل سره دشکرایستل اوحمدویل غوره دي ،په قول او ویلو سره دشکرایستلواو حمد ویلوڅخه**

**حمـد :**

« هوفی اللغةالوصف ای الثناءباللسان ظاهرأوباطناً علی الفعل الجمیل الاختیاری الواصل الی الحامد .

عرفاً : هوالفعل المبنی علی تعظیم المنعم من حیث انه منعم علی الحامد اوغیره فیتناول القول باللسان والفعل وهو العمل بالارکان باتیانه بافعاله دالة علی ذلک واعتقادبالجنان باتصافه بذلک ،

وقال بعض العارفین من السادات المحققین الصوفیة اهل الحقیقة وهو (الحمد) بالفعل اقوي منه بالقول لان افعال التی هی آثارالسخاوة مثلاتدل علیها دلالة قطعیة بخلاف الاقوال فان دلالتها وضعیة وقد یختلف عنها مدلولها.» تحفة الاعالی.

ژباړه : «داپه لغت کې په پټه اوښکاره سره په ژبه باندې صفت کول دي اودغه صفت دخدای (جل جلاله) دښایسته افعالو صفت دی کوم چې دشخص په اختیارکې وي اوپه عرف کې دغه شخص دحامد (حمدویوونکي) مصداق ګرځي ، یعنې دغه ښایسته فعل چې دانسان نه حامد جوړوي دهغه فعل څخه عبارت دي چې دانعام کوونکي دعظمت لپاره یې یوشخص سرته رسوي . ددې لپاره چې دغه انعام کوونکی په حمدویوونکي باندې نعمت اوانعام کړی دی اوداقول ژبې اوفعل دواړوته شامل دی اوفعل هغه کارته وایي چې په شکراوثناء باندې دلالت کوي . اوهمدارنګه په زړه کې هم په ثناء ویلوسره خو ؛ځینې صوفیان وایي چې حمد په فعل سره قوي دی له دینه چې په ژبه سره یې ووایې داځکه کوم افعال چې دسخاوت نښې اوآثاردي په سخاوت باندې قطعي دلالت کوي مګراقوال په ځینووختونوکې دخپلومدلولاتوڅخه خلاف وي یعنې یوسړی کله یوه خبره وکړي بلکه په عمل کې بل څه کوي . »

پورتنی عبارت ددې لپاره راوړل شو چې محققینوعلماءکرامو(رحمة الله علیه) عملي شهادت ،حمداوستاینه له قولي حمداوستاینې څخه ډیرغوره ګڼلې ده ځکه چې دشهادت په ګوته سره داشارې دعمل په ترسره کولو سره چې دلوی خدای (جل جلاله) دبې شمیره نعمتونودشکرنتیجې تحقق موندلی دی نوحتی په دې اړه ویلای شوچې ددغه وخت اوموقع څخه بله موقع اوغوره وخت نه موندل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دطب دپخوانيوعلماوو دځيرنې پايله «دشهادت دګوتې اړيکه ( نېردې والی) له زړه سره دبدن دنوروغړيوپه نسبت» اوپه دې اړونددنني طب دعلماوو نظريې**

دطب پخواني پوهان (يوناني پوه طبيبان اوحکېمان) چې دځينوځانګړو اشخاصولپاره يې د ځينې ځانګړو خميرو (ددرملنې مخلوطونو) دجوړولواجازه ورکړې وه چې دغه مخلوطونه به دوی پخپله برابرول اونوموړې مخلوطونه به يې دشهادت په ګوته سره ګډول په داسې حال کې چې ډيرنورمخلوطونه به دوی په خپلوزده کوونکو باندې په نوروعادي وسايلوسره ګډول ، مګرپه دې ځانګړې طريقې سره چې دشهادت په ګوته به يې ګډول يوه ځانګړې نتيجه اوپايله لاس ته راوړله اودوی به ويل چې دشهادت ګوته له زړه سره يوه قوي اړيکه لري «لکه چې امام مالک (رحمة الله عليه) مخکې داسې يادونه کړی وه» چې که چېرې په دغه ترکېباتوکې ناوړه ځيزموجود وي په دغه حال کې دهغه اثرسم دلاسه زړه اوذهن ته لازم وړاندېز اوخبررسوي ترڅودهغه دبدوپايلو څخه مخنيوی وشي ،اوهمداسبب دی چې نني اومعاصرطب هم ځان هغه ته ډيرنېږدي کړی دی ځکه کله چې دزړه دضربان اوحرکاتوڅرنګوالی اومعلومات دلاس دبند دنبض څخه اخيستل کيږي نواوس نوموړي معلومات اوکېفيتونه انسان دسينې دقفس اودهغه له شاخخه په ورته اومشابه توګه لاس ته راځي ،همدارنګه نني طب دزړه څرنګوالی دښې لاس دشهادت په ګوته سره دبدن دنوروغړواوبرخوپه ذريعه په غوره ډول سره تائيد کړی دی. ان شاءالله ،اوهيله موداده چې دشهادت دګوتې په ذريعه شهادت اوګواهي ورکول دانسان دبدن دنوروغړوپه نسبت ډيرغوره اوباارزښته عمل وګڼل شي لکه چې نني اومعاصرطب دانسان دبدن دځينوناروغيو اوستونزو دپيژندنی اودرملنې لپاره دشهادت دګوتې دوينې له لارې دبدن دنوروغړوپه نسبت ديوې ښې نتيجې درلودل تائيدوي .

نوپه دې اساس سره ويلی شوچې دشهادت په ګوته سره داشارې کولوهدف اومقصددخدای (جل جلاله) توحيد اويوالی دی اوبس . چې له زړه سره په مستقيمه توګه يوه ژوره اړيکه لري اودمخلص بنده په زړه اوبدن کې يوه باخوځښته ،رپيدلې اودالهي حيرانتياؤ نه ډکه نړۍ منځ ته راځي اودالله (جل جلاله) ديوالي اويوازې پالنې مينه اومحبت ده ته په وار وارسره ثبات اوتقويت وربخښي لکه چې الله(جل جلاله) په خپل کتاب قرآنکريم کې فرمايلي دي : «إِنَّمَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ ٱللَّهُ وَجِلَتۡ قُلُوبُهُمۡ وَإِذَا تُلِيَتۡ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتُهُۥ زَادَتۡهُمۡ إِيمَٰنٗا وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ ٢ » . دانفال سورت ( 2) آيت .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : «بیشکه خبره همداده چې واقعي مومنان هغه کسان دي کله چې یادکړی شي (دوی ته ) دالله( جل جلاله) نوم نو ؛ ویرېږي ددوی زړونه اوکله چې پردوی باندې دالله(جل جلاله) آیتونه (کلام) ولوستی شي نوزیاتوي دغه (آیتونه) دوی لره ایمان اودوی پرخپل رب (پالونکي) باندې توکل (باور) کوي. »

الله جل جلاله په خپل سپیڅلي کتاب قرآنکریم کې په بل ځای کې داسې فرمایي :« ٱللَّهُ نَزَّلَ أَحۡسَنَ ٱلۡحَدِيثِ كِتَٰبٗا مُّتَشَٰبِهٗا مَّثَانِيَ تَقۡشَعِرُّ مِنۡهُ جُلُودُ ٱلَّذِينَ يَخۡشَوۡنَ رَبَّهُمۡ ثُمَّ تَلِينُ جُلُودُهُمۡ وَقُلُوبُهُمۡ إِلَىٰ ذِكۡرِ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكَ هُدَى ٱللَّهِ يَهۡدِي بِهِۦ مَن يَشَآءُۚ وَمَن يُضۡلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِنۡ هَادٍ ٢٣ » . دزمرسورت( ٢٣ ) آیت

ژباړه :«الله (جل جلاله ) ترټولوغوره کلام نازل کړی دي ،هغه کتاب چې آیتونه یې (یوله بل سره) ورته اوغبرګ(تکرارول یې خوند پیداکوونکي) دي ددغه په اوریدو دهغه کسانو پوستکې رپیږي چې دخپل رب څخه وویرېږي بیاددوی پوستکي اوزړونه په نرمیدوسره دالله(جل جلاله) یادته میلان کوي دا دالله (جل جلاله) هدایت دی( سمه لاره ده) چې ددې په وسیله چاته چې وغواړي لاربښیي اوڅوک چې الله(جل جلاله) لار ورکی کړي نو هغه ته هیڅ لاربښودنشته. »

اودرېښتیني مخبر(صلی الله علیه وسلم) په قول چې وایي : «الاشارة اشد علی الشیطان من الحدید ».

دشهادت په ګوته سره اشاره کول په شیطان باندې داسې تاثیرکوي چې دهغه ټوله مبارزه چې دمخلص بنده دزړه دبې لارې کولولپاره یې پکاراچولې وی خنثی اوله منځه یې وړي اوداشارې دغه عمل دلمونځ کوونکي شخص غوښتنې اوزارئ دمقبولېت لوړودرجوته رسوي اودپاک خدای(جل جلاله) په واحد دربارکې دقبلېدو سبب جوړوي ترڅودنومورې بنده عبادت قبول اودلوی خدای(جل جلاله) په ځانګړې فضیلت

کې واقع شي . بمنه وکرمه ونعوذ بالله من شرور الشیاطین وشرور انفسنا.

(c) ketabton.com: The Digital Library




## دلمانځه په قعدوکې دشهادت په ګوته سره داشارې دکولوپه اړه داحنافوفقهاوو کرامو(رحمةالله علیهم) دځیرنوخلاصه

دلمانځه په قعدوکې دالتحیاتودویلوپه وخت کې کله چې د **اشهـد ان** دترکیب تلفظ کوو نوباید خنصره (غچې ګوته) اوبنصره (په غچې ګوته پسې ګوته ) راټولې کړو او منځنۍ ګوته دابهام (بټې) ګوتې سره داسې حلقه شي چې دابهام(بټې) ګوتې سره دمنځنۍ ګوتې په سربانديې واقع شي د **لااله** دتلفظ کولوپه وخت کې دشهادت ګوته پورته اود **الاالله**دتلفظ کولوپه وخت کې دشهادت ګوته ښکته اوخپل ځای ته یوسواوخپل پام دشهادت دګوتې دپورته کولو دلومړۍ مرحلې څخه پیل کړواودګوتوحالت اونظردقعدې تروروستۍ برخې پورې وساتو ،لکه څرنګه چې ذکرشوي حالتونه په لاندنیوشکلونو کې په لازمو توضیحاتوسره راوړل شوي دي ، ددې په څنګ کې دځینومعتبروفقهي مراجعویادونه هم کوو:

(ردالمختار- فتح القدیر- محیط –زاهدي –بحرالرائق –مبسوط –مجموعة الرسائل ابن عابدین (رحمة الله علیه)- مختارات النوازل صاحب هدایه (رحمة الله علیه)- تزیین العباده لتحسین الاشار ة ملا علی قاری ( رحمة الله علیه) –مواهب الرحمن –مراقی ....)

داشهدان دتلفظ کولو په وخت کې دښې لاس ګوتې په لاندې حالت کې قرار لري .


### اشهد ان




(c) ketabton.com: The Digital Library



**دلااله** دتلفظ کولوپه وخت کې دشهادت ګوته پورته کیږي . لکه په لاندې شکل کې :




د **الاالـلـه** دتلفظ کولوپه وخت کې دشهادت ګوته په دې حالت په خپل ځای کې قرارنیسي . لکه په لاندې شکل کې :



(c) ketabton.com: The Digital Library



دقعدې تر وروستۍ برخې پورې ګوتې په لاندې حالت پاتې کيږي :



(c) ketabton.com: The Digital Library



## دلمانځه په قعدوکې دشهادت په گوته داشارې په اړه ضروري احکام اومسائل

1. لمونځ کوونکی بایددلمانځه په قعدوکې دشهادت په گوته اشاره کول دلمانځه له سنتونوڅخه وګڼي .
2. دقعدې دلومړۍ برخې یعنې دالتحیاتودویلوپه وخت کې د(وعلی عبادالله الصالحین ) ترختم پورې باید ګوتې په لومړي مبسوط (هموار) حالت کې واقع شي .
3. د اشهد ان دتلفظ په وخت کې څلورنورې ګوتې دشهادت له ګوتې پرته په داسې طریقې سره چې وروسته بیانیږي راغونډې شي .
4. دخنصرې (غچی) اوبنصرې (په غچی پسې ) دوې ګوتې راغونډې اودابهام (بټه ) ګوته دې له منځنۍ ګوتې سره نوک په نوک حلقه شي اودشهادت ګوته دې په تړلي حالت کې وساتل شي.
5. دلا دتلفظ په وخت کې دشهادت دګوتې حرکت پورته خواته پیل کیږي اود اله دتلفظ په وخت کې دپورته والی آخري مرحلې ته رسیږي .
6. دالا دتلفظ په وخت کې دشهادت دګوتې حرکت ښکته خواته پیل کیږي اود الله دتلفظ په وخت کې دشهادت ګوته بیرته خپل اصلي ځای ته راوړل کیږي .
7. د لااله دتلفظ اودشهادت دګوتې دپورته کولومعنی اومفهوم په واقعي ډول دبل هرقسم معبود نشتوالی اونفې دلمونځ کوونکي په زړه اوذهن کې متصورکول افاده کوي اوهمدارنګه د الاالله تلفظ اودشهادت دګوتې ښکته کول خپل ځای ته چې معنی اومفهوم یې دالله (جل جلاله) وحدانیت اویوازې پالنه ده دمومن بنده په زړه اوذهن کې متصورکوي .
8. دشهادت په ګوتې سره داشارې دعمل دپای ته رسولونه وروسته لمونځ کوونکی بایدخپلې ګوتې دلمانځه ترپایه پورې په داسې ډول چې په څلورمه شمیره کې یې یادونه وشوه وساتي .
9. لمونځ کوونکی باید دشهادت په ګوته سره داشارې دکولودلومړۍ مرحلې څخه دقعدې تروروستۍ مرحلې پورې خپله پاملرنه اونظروساتي .
10. که چیرې لمونځ کوونکی دآسوېلي یا ارګمي ددفع کولولپاره اویادنورو اړتیاوو له امله چې په لاس سره یې سرته رسوي بایدچې په چپ لاس سره یې ترسره کړي مګردلمانځه په نوروحالاتوکې دې ته ورته اړتیاوې په ښي لاس سره ترسره کولای شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



11. کـه څـوک دښـي لاس دشـهادت ګوتـه ونـه لـري پـه دې حالـت کې څرنګـه چې داشـارې کولووسـیله (دشهادت ګوته ) نشته داشارې عمل له نومورې شخص څخه ساقط دي اوپه نوروګوتوسره داشاره نه کوي .

12. څرنګه چې دلااله الا الله کلمه په ټولوحالاتوکې په ځانګړې ټوګه دعبادت اوزاریو په وخت کې په پوره درناوي ،مد او اوږدوالي سره تلفظ شي ثواب اوبدله به يې زياته وي .

په همدې ترتيب دلمانځه په قعدوکې دشهادت په ګوته سره داشارې په وخت کې پورتنۍ کلمه په پوره درناوی ،مد اوپوره اوږدوالی سره تلفظ شي اودنومورې عمل سرته رسول دګوتې په منظمواوسمو حرکتونو ،مراتبواومراحلوسره سرته ورسيږي نولمونځ کوونکی به دپوره پوره اجراوثواب څخه برخمن شي اوشيطان ته به يوه سخته اودوام لرونکې ضربه وارده شوې وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دلمانځه په قعدوکې دشهادت په ګوته سره داشارې کولوپه اړونددځلورګونواامامانو اومحقیقوعلماءکرامو دنظریاتوخلاصه

دمحقیقوعلماءکرامولـه بحثونواوڅیړنوڅخه وروسته چې دشهادت په ګوتې سره داشارې دعمل په اړه یې کړې وې ددوی دنظریاتواو افکارونتیجه اوپایله چې په مجموعي ډول حضرت خاتم الفقها ءالمحقیقین السیدمحمدامین مشهورپه ابن عابدین (رحمةالله علیه) داسې بیانوي :

«ثم من ادلتها الاجماع اذلم یعلم من الصحابة (رضی الله عنه) ولامن علماء السلف خلاف فی هذه المسئله ولا فی جواز هذه الاشارة ولا فی تصحیح هذه العبارة بل قال : به امامنا الاعظم وصاحباه وکذاامامنا المالک والشافعی واحمدوسائرعلماء الامصاروالاعصارعلی ما ورد به صحاح الاخباروالآثار... »

ژباړه : «پس ! له دلائلوڅخه وروسته یې اجماع ده ځکه چې په دې مسئله کې له اصحابو کرامو(رضی الله عنهم) اوسلفوعلماء کرامو(رح) څخه اختلاف نه دی څرګند شوی اونه ددې په جوازکې کومه اشاره شوې ده اونه یې په صحیح والی کې کوم عبارت راغلی دی بلکه په دې اړه زموږامام اعظم اودده یارانو اوهمدارنګه زمونږامام مالک ، شافعی ، احمد(رحمة الله علیهم) اونورو جیدو علماوو هم دهغه څه په اړه ویناوې کړې دي کوم چې په هغه سره صحیح اخباراوآثار واردشوي وي . »

لیـــدل کیـــږي چـــې داحنافوعلماءکرامو(رحمـــة الله علـــیهم) ســـربیره داهـــل ســـنت والجماعـــت درې نورومذهبونوعلماء کرام (رحمة الله علیهم) دشهادت په ګوته سره داشارې دعمل داثبات په اړه یوله بل سره متفق دي .

څرنګه چې ددوی په نزد کومه مسئله متفق علیه واقع شي مونږته داسې مفهوم راپه ګوته کوي لکه چې هغه موضوع له څلوروخواوو څخه په څلورودیوالونوسره احاطه شوې وي نوپه هیڅ صورت سره هیڅوک نشي کولای چې په نوموړې موضوع کومه نیوکه اواعتراض ولري اودغه موضوع به په خپلوحدودوکې خوندي ســاتلې وي اوکــه څــوک پــه هغــه بــاره کــې لــه ځانــه یــونظر اونیوکــه وړانــدې کــوي نودانیوکــه بــه دڅلورومذهبونودعلماءکرامو(رحمة الله علیه) له اجتهادیه نتیجې سره کاملاً ټکر ولري لکه چې حضرت امام طحاوي(رحمة الله علیه) دشرح معانی الآثارپه سریزه کې داسې فرمایلي دي :

(c) ketabton.com: The Digital Library



«فاعلمـان المجتهدين(رحمـة الله علـيهم ) بـذلوا جهـدهم فـى تحقيـق المسـائل الشـرعية وتـدقيق النظـائر الشرعية واستنبطوا احكام الفرع عن الادلة الاربعة فاتفاقهم حجة قاطعة.. »

ژباړه : «په دې پوه شه چې مجتهيدينودشرعي مسائلوپه تحقيق اوڅېړنه کې خپل کوښښ کړی دی ،دقيق اوشرعي مثالونه يې راوړي دي اوفرعي احکام يې له ځلورګونودلائلو(مذهبونو) څخه رااېستلي دي نوددوی اتفاق يوقاطع دليل دی. »

بناًبايد دعلماوو له فيصلوڅخه چې په دې برخه کې يې کړې دي صرف نظر ونه شي اوپه هغه باندې نيوکه هـم پيدانـه شـي لکه چې محقيقوعلماءکرامو(رحمـة الله عليهم ) دشـهادت پـه ګوتـه سـره داشـارې لپـاره خپـل دلايل داشارې دمانعينوپه وړاندې راوړي دي اوهغه تـه يـې پـه فقهـي اواصـولي بنـه (پـه نبـوي احاديثوسره) خپل ځواب ورکړی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دشهادت په ګوته سره داشارې دسنت والي دنفې کولو ځينې کمزوري دلائل

دلمانځه په قعدوکې دشهادت په ګوته سره اشاره کول د اشهدان لااله الاالله دويلوپه وخت کې په مطلق ډول سره سنت ده اماپه دې سربيره ليدل کيږي چې ځينې کسان دمختلفو ، ضعيفوعلتونواودلائلوپه اساس کوښښ کوي چې دشهادت په ګوته سره داشارې سنت والی نفې کړي حتی تردې چې معاذبالله هغه ته دبدعت وربښلوقصداواراده لري چې دهغې له جملې څخه دوه دلائل په لاندې ټکوکې بيانږي :

1.دحضرت مجددالف ثانی(رحمة الله عليه) وينادليل نيسي چې داحاديثوداضطراب په حکم سره يې دشهادت په ګوته سره داشارې کولوپه باره کې کړې ده ،اوکه مضطرب حديث او يادهغه ديوې برخې تطبيق اوترجيح صورت ونه نيسي نوداضعيف حديث دي ،لکه څرنګه چې اوس شاه صاحب کشميري ،حضرت شاه محمديحيې اوميرزامظهرجان جانان اوعلامه پانی پتي (رحمهم الله) په دې حکم کې له مجدد الف ثاني(رح) سره موافق نه دي اوده داحکم يې په هندوستان کې دحديث اودهغه داوصولودعلم په پوره توګه نه خپرېدل ګڼلي دي اوپه حقيقت کې ددغه حديثونو ترمنځ کوم ټکر وجودنه لري بلکه دوختونو او کړنو(افعالو) ترمنځ له اختلاف څخه يې سرچېنه اخيستې ده .

2.په ظاهرالروايت کې دغه مسئله نه ده راغلې چې نومورې خبره اودهغه علت دعديدي (شميرنې) له وجود څخه مردود وي ځکه چې :

لومړی دظاهرالروايت په کتابونوکې دکومې مسئلې نه يادونه دهغه مسئلې په غلط والی باندې دلالت نه کوي بلکه له بله اړخه امام ابويوسف (رحمة الله عليه) دغه حکم په خپل کتاب(امالی) کې اوهمدارنګه امام محمد په خپل کتاب (موطاء) کې داسې بيان کړی دي چې دنادرالروايت په درجه کې قرارلري اوکله چې کومه مسئله دظاهرالروايت په کتابونوکې نه وي بيان شوې نو ؛ په نادر الروايت کې داعتبار وړده.

خوله ټولونه مهم دمجتهيدينو کرامو(رحمة الله عليهم ) کلي قول دی چې وايي :

«اذاصح الحديث فهو مذهبی مبين . »

ژباړه : «کله چې حديث شريف صحيح شونو ؛هغه زماپه مذهب کې ښکاره دليل دی . »

(c) ketabton.com: The Digital Library



همداخبره ده چې امام اعظم (رحمة الله علیه ) هم د«رفع الاصبع عند التشهد . »په سنت والي سره قائل دی ،نودائمه وو څخه داحنافومذهب ددغه عمل دسنت والي بیان کړی دی ښه لادا چې دفتوا وو په کتابونواوداحنافودفقهې دمعتبروکتابونوپه شرحوکې هم دشهادت دګوتې دپورته کولوپه سنت ګڼلوترجیح ورکړل شوې ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځينې کتابونه چې دشهادت په ګوته سره اشاره کول په کې تشريح اوتائېد شوي دي

ردالمختار- بحررائق- فتح القدير- نهرفايق – ذخيره –شروح الهدايه – کبيری – صغيری- املاءامام ابويوسف (رحمة الله عليه)- مشيخه امام محمد(رحمة الله عليه)-قسهاتی- شرح کيداني – شرح على الاشباه والنظائر- تحفه – شمنى شرح مختصرالوقايه – محيط – منية – المصلى- نهايه – واقعات- جامع الصغير- مبسوط شيخ الاسلام – بدايع – ذخيره برهانيه –معراج الداريه –تبيبن شرح الكنز –ملتقط – نقايه – ظهيريه – قونويه- منية المفتى- غررالافكار-مواهب الرحمن –شروح مجمع البحرين – سراج المنير- فتح المنان –حاشيه –كنزغلام فخرالدين – فتاوى العزيزى – رساله شاه عبدالعزيز(رحمة الله عليه)-محمودالروايه – تحرير-برجندي – صراط المستقيم – منحة الخالق –العجاله فى تحقيق استنان اشاره – شرح معانى الاثار-رساله شاه يحيې بن مجدد-نمازكامل – حاوى – نورالايضاح –جوامع الاصول – رساله امام اجل متقى – مسائل طهارت ونماز – خزانة الروايات – جامع المضمرات – سراج المنير- مطالب المومنين – حاشيه برجند ى – عينى دربنايه – امالة التنبهات – شرح زاهدي – طحطاوى – اجناس – مسلک المتقين – حقيقة المتقين –حقيقة المهتدي – شرح النقايه – كلمات الطيبات – امدادالمتقين على تهناوى – عنايه – فتاوى ابن عبدالبر – موطاءامام محمد (رحمة الله عليه)- دررالبحار – معارف السنن – مشكوة المصابيح – مسلم – بخارى – آپ كامسائل – فتاوى ديوبند – فتاوى واحدي – احسن الفتاوى – اعلاء السنن – سعايه – نوازل ابولېث (رحمة الله عليه) غنيه – جليه – تعليق الممجد – كتاب فقه على مذاهب الاربعه – مجموعه محمدعبدالحى (رحمة الله عليه) – رمزالحقايق – كفايه – رسائل الاركان – برجندي شرح النقايه – عينى التحفة – شرحى ملتقى – تاتارخانيه –رفع التردد فى عقدالاصابع عندالتشهد –مختارات النوازل – ايضاح شرح الاصلاح والناصرى – حلية المحلى شرح منية المصلى – تعليق الصبيح على مشكوة المصابيح – مكتوبات هاشمى – مراقى الفلاح – تزيين العباده لتحسين الاشاره- عمده الرعايه – ضارم الهاشم –اركان اربعه – بحرالعلوم – مكتوبات شاه فقيرالله - نافع الكبير –مجموعه الرسائل – نفع المفتى – فصل الخطاب – نيل الوطار – بيهقى – حجة الله البالغه – فتاوى المحموديه – فتح الوهاب – خيرالفتاوى – متانه – كفاية المفتى – جوهرة النبيره – شرح الياس – ملتقط - نسائى – مجموع الزوائد – مسنداحمد – بذل مجهود- رحمت بيان – ابن ابى شيبه – شرح مذهب – ابوداود – موطاءامام مالک – معاجم طبرانى – سنن سعيد ابن منصور- امالة الشبهات – مفتاح البشاره لاهل الاشاره – فتح ملهم –ثوبة الجديد –فقه اسلامي وادله – مرقات – اشعة اللمعات .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دليکوال لنده پېژندنه

اندیشه توګـــرچه بود درخـوشـــاب   تابان نشـــود تا که نیـاید به کـتاب

ګرطبع نشد وبه دسترس مردم نفتاد   برقیست درخشنده ونقشیست برآب

دهـرات دلرغـوني اوزاړه ښـاردنبوي خرقې (ص) سـویل تـه دهـرات دتـاریخي ارګ (داختیارالـدین قلعې) تـه مخـامخ یـوه کوڅـه چـې دخواجـه محمدیوسـف رخبنـد (رح) پـه جومـات اوزیـارت سـره شـهرت لـري چـې همدادخواجه صاحب داوسیدلوځای له ځانګړو برکتي آثارو څخه برخمن دی نوموړی دخواجه ابوالولید آزاداني (رح) اود احمد ابن ابی رجاء (رح) « دامام بخاري (رح) داستاذانوڅخه دی اودده په روایت سره په صحیح البخاري کې احادیث هم راوړل شوي دي » معاصرؤ اودهغه عالیقدر اصلي جومات هم همدلته موقعیت لري چې دخدای پالنې(عبادت) دځلوینښتو ورځو اوشپو خونه(چله خانه) یې هم په هغه کې ده چې تراوسه پورې (۱۳۸۹ه ش) هم په خپل ځای کې پرته ده . له هغه وروسته ځینو قدرمنو لکه خواجه عبدالله انصاري (رح) هم په هغه کې څلوینښت شپې اوورځې تیرې کړې دي اوپه دې وروستیوکلونوکې په هغه جومات کې دهیواد پیاوړي عالم ،ادیب اوشاعر شخص ښاغلي فضیلتمآب مولوي عبدالله (شفیقي) یوعلمي پراخ مرکز تأسیس کړیدی اوپه هغه که طالب العلمانو ته داسلامي علومو زده کړې ورکول کیږي .دنوموړې رسالې لیکوال ښاغلی عبدالرحیم فوزي(هروي) دمحمدامین (هروي) زوي اودګل احمد(هروي) لمسی چې په (۱۳۲۸ ه ش) کال په همدې کوڅه کې زیږیدلی دی . اوپه (۱۳۵۲ه ش) کال کې دهرات جامع شریف له عالي دارالعلوم څخه فارغ شوی دی . ددې رسالې لیکوال څوکلونه په دیني مدرسو اوښوونځیوکې طالب العلمانو او زده کوونکوته داسلامي علومو تدریس کړیدی ،چې په دې دوران کې یې ګڼ شمیرکتابونه اورسالې لیکلې دي خو ؛ په دې وروستیوکې یې دیوه داسې مهم اومعتبر اثرلیکلوته ملا وتړله چې دا اثردلمانځه په قعدوکې دشهادت په ګوته داشارې دسنت د ژوندي کولولپاره یواړین امربلل کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دژباړن ژوندلیک ته لنډه کتنه :

**نوم اوتخلص :** نعمت الله پټانزی. **دپلارنوم :** شهيد اسدالله صديقي. **دنیکه نوم :** عبدالغياث.

## زوکړه :

نعمت الله پټانزی په ( ۱۳۶۷ه ش/۱۹۸۸م ) کال کې دوردګو ولایت دسیدآباد ولسوالی دشنیز د درې دپټانخیلو په کلي کې په یوه درنه اودینداره کورنۍ کې زیږدلی دی .

## زده کړې :

- لومړنۍ زدکړې یې ترشپږم ټولګي پورې دوردګو ولایت دسیدآباد ولسوالی دسعدیې په لومړنۍ ښوونځی کې ترسره کړې دي .
- منځنۍ اوثانوي زده کړې یې هم دوردګو ولایت سیدآباد ولسوالی دحضرت خالدبن ولید (رض) تکیې په عالي لیسه کې ترسره کړې اوله نومورې لیسې څخه په( ۱۳۸۶ ه ش) کال کې په اعلی درجه (اول نومره) فارغ شو .
- دکانکورله آزموینې وروسته دهرات پوهنتون داقتصاداومدیریتي علوموپوهنځی ته بریالی شو ،اګرچې یوکال یې په دې تحصیلي دوره کې دځینوستونزوله امله ځنډراغی خوله نومورې پوهنځی څخه په (۱۳۹۱ه ش) کال کې په پوره بریالیتوب سره فارغ التحصیل شو.
- نعمت الله پټانزي په (۱۳۹۰ه ش) کال کې دمدیریت او تجارت (Business Administration) په څانګه کې دجرمني ددوست هیواد دهانس بنیاد(Hones Foundation) لخوادافغانستان دسوداګرۍ اوصنایعوله خونې څخه ترشپږمیاشتنیوعملي اونظري زده کړو وروسته تصدیق نامه لاس ته راوړې ده.
- نعمت الله پټانزي په (۱۳۸۸ه ش) کال کې دجمعیت اصلاح افغانستان داسلامي معارف له کورس څخه هم تصدیق نامه ترلاسه کړی ده.

## آثار اولیکنې :

1. دلمانځه په قعدوکې دشهادت په ګوته اشاره (ژباړه ،همدا اثر) .
2. په اسلام کې دربرې حکم (ژباړه ،ناچاپ اثر) .
3. دپټان ننګ (شعري ټولګه ،ناچاپ اثر) .
4. ترمې اوښکې (دحمدونو او نعتونو شعري ټولګه ،ناچاپ اثر) .
5. دغیرت خیره (دغازي شیرخان وردګ په ژوند او خاطرو هر اړخیزه څیړنه ، ناچاپ اثر) .
6. جیومتریک مفاهیم اوفورمولونه (ناچاپ اثر) .
7. رنګینې کرښې (دپوهنتون خاطرې ،ناچاپ اثر) .
8. ګڼ شمیرنورې مقالې چې د هیواد په بیلابیلو مجلو ،ورځپاڼو او ویب پاڼو کې خپرې شوې دي .

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**